# فراق نامه

## خوشحال خان خټک

مقدمه، حاشیه او لټون

همیش خلیل

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بسم الله الرحمن الرحیم

# فراق نامه

## خوشحال خان خټک

مقدمه، حاشیه او لټون
همیش خلیل

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

14530

# وړومبے اشاعت

## جون ۱۹۸۳ء

مطبع ———————— د چاپ ځائے پېښور

کتابت ———————— نواب طوفان رقم

خورونکے ———————— قامی مکتبه پېښور

قیمت ———————— شل (۲۰) روپئ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# انتساب

د رتنبور د چلنده بادونو په

# نوم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جهان وارہ کور د عشق د محبّت دے
په خوشحال باندِ باندرہ شو رتنبور

زندان د احترام او عقیدت هغه دائرہ دہ چه تیَرے ئے د ذهن اُفق ته نور او رنړا بخښی.

بهر دَ سوزید ونکی مواد حرارت په آزادو بادو نو کښے بے اترہ شی. ولے د مزکے په زندان کښے هم هغه حرارت د تحریک یو لازواله قوت شی او هم د مزکے په مخ د یو انقلاب رادستلو سوَب

همیش خلیل

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## د دې قلمي نُسخې په حقله

د فراقنامې دا قلمي نسخه دَ پېښور ميوزيم په کتب خانه کښې پرته ده. تردغه وخته زما د معلوماتو مطابق دغه واحده قلمي نسخه ده چې معلومه ده. د هر چا نه ورومبې خدائې بخښلي دوست محمد خان کامل مومند له دغه نسخې نه استفاده کړې ده. او ددې نسخې ځنې مثنوياني ئې په "خوشحال خان خټک" نوم ئې کتاب کښې چې په کال ۱۹۵۱ء کښې په اول ځل د "ادارهٔ اشاعت سرحد پېښور" له خوا شائع او خپور شويدې، په طور د خوشحال خان د حبسيه کلام پېش کړې دي.

ګران زلمی هم ددغه نسخې نه يو نقل اخستې دې - چه د هغې يوه کاپي ئې ماته زما په خواهش راکړې ده. دلې اصل نسخې سره دَ مقابلې نه پس د ګران زلمي او کتاب ترمينځه د واضحه فرق په وجه ما د نسخې نه خپل نقل هم واخستو.

"فراقنامه" تر ډيره حده پخپل بشپړ شکل په ورومبي ځل د پيش کولو فخر محسوسوم. د پېښور ميوزيم د ډائريکټر محترم فدا الله خان صحرائي ډېر ممنون يم چاچه په ډېر اخلاص او مينه ماته د فراقنامې د نقل کولو په لړ کښې بنهٔ سهولتونه راکړل.

د محترم ډاکټر صاحب پاکستان سټډي سنټر پېښور پوهنتون نباغلي ډاکټر محمّد انورخان هم مننه کوم چې د پښتو د کلاسيکي ادب او بيا په تيره تيره د خوشحالي ادب په خپړولو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او عام کوڼو کښې نې لکه د "دیوان رحمت داری" او "اخلاق نامه" د قرا قنا مے د اشاعت په سلسله کښې هم زما حوصله افزائی وکړه -

همیش خلیل

# قيد و بند

د خوشحال بابا د قيد حادثه د درباري او خپله د خوشحال بابا د ترونو د سازش يوه داسې المیه وه چې نتیجه ئې براه راست د مغلی سلطنت سره د يو تصادم په شکل راښکاره شوه او باوجود ددې چې د دربار ډير منصبداران د خوشحال بابا د گرفتارئ خلاف وو، او ځنو ئې ډير په اخلاص د خلاصی کوششونه هم کړي وو. خو سره ددې بيا هم د خوشحال بابا په بې گناهئ او مظلوميت اورنگ زيب د هغه هيڅ داد رسی ونکړه.

سيد مير خوافي چې د هغه دوران کښې د کابل صوبيدار وو. د هغه د يو نائب مرزا عبدالرحيم او خوشحال بابا ترمينځه د کوم اختلاف په وجه مرزا عبدالرّحيم د خوشحال بابا ترونو بهادرخان او فيروزخان او ځنی نورو حکومتی خلقو په صلاح مشوره د خوشحال بابا د گرفتارئ يو سازش تيار کړو. خوشحال بابا د هغه سازشيان د يو خيالی تهويک مختلف حصې گنړي او د هر سازشی کردار په خپلو دغو شعرونو کښې داسې بيانوي:-

پنځه بد روز بکر حيران بهادرخان
شيخ ستار ماشه تهويک عبدالرّحيم وه
د تهويک کُنده هرگز نه وي بې سيخه
د تسمو په ځائے گويا دا نور عالم وه
مرد کې دار و همه خواجه صادق وه

هدايت ترين سوخته وه ترډا ميان
د تهويک کُنده ځدائے يار محمد کامران
حق ناحق ئې پکښې جوړ کړ جهان خان
اسفنديار غونډ يو خوگيدی پاجيان
بند و فچې صاحب صوبه وه پخپل ځان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په دا هسې غرځه روغ د ګذار نه وه　　په آزار به ئې ګلو وه کا خدائې جهان
په مثال خواجه خضری غرځه خوشحال وه
چه ګذار و ربانده وشو نا ګهان　　(ص ۲۱۶ کلیات)

مرزا عبدالرّحیم د کابل صوبیدار ته او وې، چه تر کومه خوشحال قید نه کړے ستا د صوبیدارئ نقش نشی قائمیدے. د خوشحال بابا ترونو[۱] صوبیدار ته د شمشیرخان په ضمانت د پنځوس زرو روپو ورکولو لوظ هم وکړو. سازش تیار شو. د دغه موده کښې (۱۰۷۰ – ۱۰۶۹ھ مطابق ۶۰ – ۱۶۵۹ء) اورنګزیب د غلے او نورو اجناسو د باج او راهدارئ د محصول د معافئ حکم کړے وه. چه اثر ئې د زمیندارانو او جاګیردارانو په آمدن پریوتو. دا احتمال وو چه زمینداران او جاګیرداران به د راهدارئ د نوي قانون مخالفت وکړی. د دغه احتمال پیش نظر د کابل صوبیدار دا خیال وکړو چه که په دغه الزام کښې هغه یو کس هم ګرفتار کړی. نو نور خلق به د خپلے ویرے هُم د قانون د مخالفت جرأت ونکړی. هم د غه وجه وه چه امیرخان بادشاه نه د غه ضمن کښې د حکم اخستلو دپاره دارالخلافه ته سړے د خوشحال بابا روان شو. خو امیرخان چه دا تکه واورېده. نو خوشحال بابا ئې واپس کړو، ولے د هغه ترونه ئې د ځان سره بوتلل. بادشاه ته د حاضرېدو سره هغه د صوبیدار نه د راهدارئ د نوي قانون د نفاذ په حقله پوښتنه وکړه. صوبیدار ته موقعه په لاس ورغله او بادشاه ته ئې ووئیل چه د زبردستئ د عمل نه بغیر دا ممکنه نه وه. په دغه طریقه صوبیدار د بادشاه نه د زبردستئ د عمل د حکم کوم غښے چه ترلاسه کړو. خوشحال بابا د دراندے نه د هغې نښانه وه. یعنې صوبیدار د دروم بیه نه د نخښیے ویشتلو دپاره د زبردستئ د حکم غښے د سازش په تیرو کښې د بادشاه د تیرکش نه په دا ممے طریقه ترلاسه کړو، چه بادشاه پرے هډو پوهه نشو. او کوم وخت چه صوبیدار پېښور ته را واپس شو. نو باوجود د دے حقیقت چه خان بابا د ذکر شوی قانون د نفاذ په حقله د هیڅ قسم مخالفت یا په دغه حقله ئې د نفاذ په لاره کښې

---

[۱] د وارو ترونه مے نا اهله　　ابو جهل بولهب شول
زړه ئے بند کړم په مغلو　　په خانئ او په منصب شول

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دغهٔ مشکلاتو پیدا کولو مخالفت نهٔ وه کړے. وړلے بیا هم امیرخان په دے مجمله کښې په خان بابا د قید ګذار وکړو. د صلاح مشورے په بانه ئے دکلی نه پیښور ته راوُغوښتو. مخکښې لور حال پخپله دا سے بیانوي:-

شعر

منهٔ وه لا دوپهر چه مے ځائے شو پیښور
وا ستاوُه مغل ته ما هغه ساعت نفر
وے مے دایم راغلم ستا په خط ستا په خاطر
کوم ساعت حاضر شم په ما کومه لرے چر
دا جواب ئے راغے چه راتلهٔ دِ وو بهتر
ګانده په دیوان دے راښکاره کړه خپل پیکر
درے ورځے شوے تیرے دیوان نهٔ کړ کیدی خر
دے په خوَو ماته زهٔ له ځانه بے خبر
شیخ د ګجرات ددهٔ پیش دست وه یو بشر
سرتر پایه واړه په دیدن کړیه نظر
دهٔ وے ترما راشه چه کنکاش کړو مقرر
بیا به د نواب ته وئیل کړو نیرونبر
وړغلم تردهٔ پورے زهٔ پاک پخپل باور
نروند مے نااهل معلی څوی په داشر
لور په لور مغل ترما چاپیر شول په هنر
مُفت ئے په لاس کښېنیوتم په حکم د قدر
تېرغ وشو په شهر دا خبر شو منتشر
هیچا نهٔ پسندل په خدائے پسنده دومکر
کوزئے کړم له کوټه چه ئے کښېنیوتم په جال
نړدئے را په پښو کړے پنځ سیرئ بیړئ کوتوال

(ص ۹۳۵ کلیات خوشحال خانُ)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دګرفتارئ نه پس د دوه میاشتو پېښور کښې اوساتلے شو. د قید هم په دغه ورځو کښې صوبیدار ترے د پنځوسو زرو روپو مطالبه وکړه. خان بابا د صوبیدار دغه مطالبه رد کړه. دغه نه پس خان بابا د مغلی سپاپانو نه علاوه د محب خیلو مومندو په پهره کښې دا بابا مستجاب خان په مشرئ کښے چه مصری خان دا اود نه ئے او د هغه سرې هم وو سره وو. هندوستان ته ولیږلو.

خوشحال بابا (رمضان ۱۰۷۴ھ مطابق اپریل ۱۶۶۴ء) کښې دهلی ته ورسید و. د خان بابا په ګرفتارولو وستو بیا امیرخان پښېمانه شوے وه او دائے خیال وه چه که دربار ته ورسی یاران دوستان لري. هسے نه چه خپله هغه صوبیدار له بده شی، خو اوبه له ورخه تیرے وے، نو ځکه د دغه احساس سره صوبیدار خوشحال بابا د الوګی رخرو په قتل کښے د را ایسارولو دیو بل خطرناک سازش تکل وکړو. دغه دویم سازش کښے د صوبیدار نورو شریکوالوا باب خدایار خلیل او صادق بخشی د مقتول وړ ورشهداد را وبللو او د خان بابا د مرګ د فتوے په تیارولو کښے مصروف شول. و لے دغه سازش کښے صوبیدار ناکام شو.

---

۱ جمادی الثانی ۱۰۷۴ھ مطابق جنوری ۱۶۶۴ء

۲ وغوښتې پنځوس زره روپۍ صوبه دار ماوے دربه نکرم یو بوچک نه یو دینار
(ص ۹۳۶ کلیات)

۳ هند ته ئے روان کړم بدرقه ئے مستجاب ؛ هم ملک هم خان هم دهمه غوری ارباب
۴ درسته شپه خوګئ د محب خیلو پنځه لښان ؛ بل وه مصری خان دا ودنه ئے یو تول لحدیان
(ص ۹۳۷ کلیات)

۵ زه هم په وسط د رمضان کوچیال کوچیال ؛ وم غلم دربار ته نه رخلو را ودیا وه کال
(ص ۹۳۸ کلیات)

رمضان ۱۰۷۴ھ نه تر رجب ۱۰۷۵ خوشحال بابا دهلی کښے وه -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دهلي ته د رسيدلو نه وړاندې دخان بابا او ورمير[1] بازخان، يو تربور باقي خان او خوږې سعادت خان دهلي ته د وړاندې نه رسيدلي وو او د خوشحال خان بابا يو دوست محمّد آمين خان ميربخشي سره ئې ليدلي وو. چاچه هغو ته د خوشحال خان د آزادولو په لړ کښې نيمه تسلّي ورکړه. محمّد آمين خان د وعدې مطابق بادشاه ته دخان بابا د رهائي په حقله سفارش وکړو. بادشاه په ضمانت دخان بابا د رهائي حکم صادر[2] کړو. ولې په ضمانت د ايله کولو نه وړاندې دامير خان خواني يو عرضداشت بادشاه ته ورسيد و. دغه عرضداشت[3] کښې دکابل صوبيدار ليکلي وو. چه خوشحال مه پريږده. ځکه چه دهغه پرينبول به په امن کښې د "اختلال" باعث شي. دغه شان دمحمد آمين خان کوشش ناکام شو. ولې محمّد آمين خان خپل کوششونه جاري وساتل. ددې کوششونو په نتيجه کښې بادشاه په دې شرط دخان بابا په رهائي راضي شو. چه که خوشحال بابا خپل اهل وعيال دضمانت[4] په طور هندوستان ته راولي، نو

---

[1] خوږې سعادت، باقي، ميرباز پريشان احوال
راغله په لاهور کښې راپښې دوی په دنبال
وړاندې ترما لاړل ودربار ته په اهغال
ده ئې کړه بخشي ته له دې حاله قيل وقال (ص ۹۳۸ کليات)

[2] ديره دو بدل شو په امينخ کښې سوال جواب: حکم د خلاصي دضمان وشو په اجمال ( " " )

[3] ځائې په حويلئ کښې توخپل خټک د کوتوال: جوړ شو ضماني ته سيد شمس د جلال
مونږ په دا فکر ته ووچه په مياشتي د شوال: راغی عرضداشت د سيد مير په دا مقال
مه پريږده خوشحال دده پرينبول دی اختلال: بيا په امينخ کښې پريوت د خلاصي ديرجنجال
(ص ۹۳۸ کليات)

[4] بيا د مير جمله خوږې بادشاه ته په خلوت: عرض ئې زما وکړو د ميرخان په کفالت
دا ووې بادشاه فلانه به خلاص کړم سلامت: زن بچه که راولي وهند ته په سرعت
وا ورېده دا حکم سعادت، باقي، ميرباز: راغله يکايک ئې حقيقت کړو راآغاز
مياشت وه د صفرې چه درې واړه کړه باز: وه ئې کړو وطن ته په رخصت زما پرواز
(کليات ص ۹۴۰)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه په خوښه کړې شي. میرباز خان، باقي خان او سعادت چې هم لا په ډهلي کښې وو. د بادشاه د دغه حکم نه خوشحال بابا خبر کړو. ولې خوشحال بابا د بادشاه د دې امر ته غاړه کښېنښوه او د خوشحال بابا په وینا میرباز خان، باقي خان او سعادت خان درې واړه تقریبًا د[1] درې میاشتې پس وطن ته په دې غرض راواپس شول چې د بادشاه په حکم عمل ونشي، او کله وخت چې دغه درې واړه وطن ته راورسیدل، نو د خوشحال بابا اهل وعیال یې د یوسفزیو علاقې سیکرې ته ورسول.[1]

خوشحال خان اندازًا دوه نیم کاله د[2] ډیلي او بیا د[3] رياست د رنتمبور په قلعه کښې تیر کړل. ډیلي کښې د قید په دوران کښې سخت ناروغ[4] شوې وه. د غه ناروغتیا نه پس یې بیا د رنتمبور[5] قلعه ته ولیږلو. د محمد امین خان بخشي په کوششونو آخر ایله کړې شو او د هغه ځایه اټکې ته لاړ.[5]

په (۱۰۷۹هـ مطابق ۶۹ - ۱۶۶۸ء) کښې کوم وخت چې مهابت خان، مرزا

---

۱ یو ځل په ماتې ترهنګاله ورغلل ۞ بیا د اکوزیو په سیکرې ننه وتل (ص ۹۳۱ کلیات)
۲ په ډهلي په رنتمبور کښې ۞ درې څلور کاله حیران شوم (ص ۸۲۲ کلیات)
۳ یو کال د ډهلي په بندي خانه کښې وه. بیا رغمونه ډیر زیات دربانده راغلل. مرګ وته نږدې شو. اجل یې نه وه پاتو شه (تاریخ مرصع ص ۲۷۵ - ص ۲۷۶)
په دغه حقله هم د دغه کتاب شلم نمبر غزل وګورئ.
۴ په وسط د څلور مه خوریه بند شوم ۞ په رجب د یل کال وختم په کړه
د ذي القعدې په پنځم له کړه کوم شوم ۞ دوه کالو نه پنځه میاشتې شي د تره
بیا تاریخ د استخلاص راوړه راته ۞ لاړ په کوزه د سید میر د مور لیره
۵ په اټکه کښې مې پښې واشوې ۞ بیا نوکر د بد سلطان شوم (ص ۸۲۲ کلیات) ۱۰۷۶هـ
د اټکې نه بیا ډهلي ته لاړ د نظربندۍ په ورځو کښې خوشحال بابا د اس نه راپریوتې وه او پښه یې خوږه شوې وه. څلورو ورځې پس یې یو قصیده ویلې وه چې څنې شعرونه یې دادي :-

اَش چه ور دروې په لاره ۞ پرېوا ته څنې آفت دې
پښه مې هسې رنګ په درد شوه ۞ چې تیریږي یو ساعت دې
چې د سر بلا په پښو شوه ۞ دا لا خیر خیریت دې
ماحه دا قصیده ادو وې ۞ په ډهلي کې اقامت دې
څلورمه د رجب وه ۞ زر اووه اویا هجرت دې (کلیات ص ۶۱۹)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لهراسپ د سید امیرخان خوافی په ځائې د کابل صوبه دار مقرر کړو نو مهابت خان بادشاه ته خوشحال خان ځان سره پیښور[۱] ته د راوستلو خواست وکړو. بادشاه د هغه درخواست منظور کړو، او په قول د افضل خان ختک خوشحال خان بابا (د ذوالقعدې په پنځم کال ۱۰۷۶ مطابق مئی ۱۶۶۶ء) کښې وطن ته راواپس[۲] شو.

د قید په دوران کښې دخوشحال بابا دَ ځنو نظمونو، غزلو او خصوصاً په تاریخي او ادبي لحاظ ډیر اهم دیو ترکیب[۳] بند ذوالقافتین نه پرته "فراقنامه" دخان بابا د حبسیاتو هغه مجموعه ده، چې په دهلي او پسته د رنتمبور په قلا دخپل قید په اوان کښې ئې لیکلې ده. دخوشحال بابا دا سې ډیر نظمونه او غزلې وغیره په "کلیات خوشحال خان ختک" کښې شته. چې خان بابا دخپل قید په وخت لیکلي دي. ولې په "فراقنامه" کښې نشته. دمثال په توګه ذکر شوې ترکیب بند ذوالقافتین په واخلو. چې خوشحال بابا پکښې دَ خپلې ګرفتارۍ، قید او ځنې نورحالات او واقعات بیان کړیدي. ولې دا اهم دستاویز په "فراقنامه" کښې نشته.

"فراقنامه" په یو خو مثنویانو او غزلو مشتمله ده. دا مثنویانې دَ وطن نه لرې دفراق او سافرئې په حالت کښې دخپل کورکلي، ټبر، اولاد، یارانو، دوستانو او وطن په یاد کښې هغه ساندې او د سوئ وړردنه ډکې هغه غارې دي.

---

سلہ دشجاع په شرح شورکښې ‥ خپل وطن وته روان شوم

(کلیات ص۸۲۳)

سلہ اوو ذوالقعدې په پنځم په سن مذکور (۱۰۷۶ھ) له قیده خلاص شه.

دتاریخ مرصع ص۲۹۲

(۳) کلیات خوشحال خان ختک ص۹۳۴ - ۹۴۷

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه د پنجرې بلبل په خپلو مصیبتونو او کړاونو نه د کوحالاتو ویلی دي۔ د فراقنامې اشعار خصوصاً مثنویات د خپلې روانۍ، چستۍ او د فراق د دردناکو حالاتو یو داسې داستان دې، چې تله یې لوستونکي له اتره پاتې کیږي او نه آوریدونکي، او هم دغه د فراقنامې هغه روح دې۔ د فراق او هجران په حالت کښې د خپل کور کلي او ټبر یاد داسې بیانوي :-

دریغه دریغه خپلې مورې　　آواره خبرې نورې
ډېر وکړې له دې ځایه　　یو ځل ورځې ترسرایه
په هرچا و کړ ځیدلې　　حال د وارو ولیدلې
چې مې مور به غم کښې څه کا　　چې مې خور به غم کښې څه کا
د کورونو حال مې څه دې　　د اولس احوال مې څه دې
ښوک خوشحال دې ښوک دلگیر دې　　ښوک خندا کا ښوک به ویر دې
په محل کښې مې ښوک ناست دې　　په خوابگاه کښې مې ښوک ملاست دې
د محل میرمنې څه شوې؟　　چې ترورې یا سیدې نه شوې
نازپرورې حورې مې څه شول　　په کوم کوم بلاد خوارې شول؟

اشرف خان به چرته بند وي
څه کا څه رنګه به یې ژوند وي

خوشحال بابا چې په طور د یرغمال خپل اهل وعیال دهلی ته د بوتللو شرط رد کړو۔ او په دغه شرط د عمل نه کولو به لړ کښې څه وخت چې دهغه ټبر دریه درشو۔ ورپسې هنگال او پسته سنکاو ته لاړ، خوشحال بابا د دغه الميې په حقله وائي :-

خدایا ته حاضر یې سر یې　　د هرچا په حال خبر یې
چې میشته په سنکاو دي　　په عظیم دریاب لاهو دي
د هغو په حال خبر شوې　　راښکاره یې هر اثر شوې
چې څه خوري څه یې خوراک دې　　څه یې ژواک څه یې پوشاک دې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کوم ړوزګار کاندي په غم کښې     کوم کوم کار کاندي په غم کښې
حال د جنځ د مور څه شان دے     زړهٔ یې خوځا په پریشان دے
د خلو د مور څه حال دے     په څه څیز یې اشتغال دے
څه کا مور د صدر څه کا     جدائي شوه خدائے خېل کړه کا
حال به څه د باز د مور وي     په اور سوځې لکه سکور وي
هم صورت هم صوریت     واړه غم سره لت پت

ښکار د خوشحال بابا اهم مشغله وه۔ دے ښکاري خېله ښکار شویدے۔ دغه ضمن کښې د ماضي یادونه او دوباره د یو ښکاري د کردار لوبولو نه د مایوسئ اظهار کوي :۔

نه به بیا د ښکار سامان کړم     نه به بیا آهو ګردان کړم
نه به بیا د ښکار په جوش شم     نه به بیا انبوه پوش شم
نه به بیا ننو دادین وي     نه به بیا آسونه زین وي
نه به بیا توپک په غاړه     راسره وي جوړے دواړه
نه به بیا وړاند عثمان ځي     وړ پسې به نور سپایان ځي
نه به بیا ختا ځي وړاند     چې ناړے سوړے په کاندي
نه به بیا له شادي خان     د ښکار شغل کړم خوشتان
نه به باز یحیٰ خان دواړه     راشي بیا د سین په غاړه
نه به زهٔ د دوئ د یاره     تور تاړو راوړم له ښکاره
نه به بیا محل ته ستړے     وړ شم ښکار د میړے کړے
نه به صدر خوا ته راشي     چې د زړهٔ کلفت مے واشي

د رنتمبور بندي خانې نه به دوستانو سلام وائي او د هغو یاد به دغو دردناکو الفاظو بیانوي :۔

چې د ما د زړهٔ ارمان دي     په جهان کښې ښهٔ یاران دي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په نړۀ نر داغه لرمه       په ډيدن پسے يې مرمه
په ژړا په بوږه غاړه       په بار بار سلام په واړه
کور دِ وران وَ د آسمان شي       چه يې دور په هر شان شي
بنه مين سره جُدا کا
تل يې سر په واويلا کا

لنډا دا چه "فراقنامه" د خوشحال خان بابا دَ قيد دَ حادثے يوه داسے نتيجه ده، چه کۀ هغۀ ته دا حادثه نۀ وے وريپښه شوے نو نن به دا کتاب هُم نۀ وُو۔

همیش خلیل

ه

---

۱۔ دستارنامه هم دخان بابا د زندان تخليق وے۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۱)

کهٔ[1] غمُونه ددے خیل خاطر خرابٔ[2] کړمه
بویه دا چه دفترونه یا کتاب کړمه
په بیان به قصیده به تمام نهٔ شی
کهٔ ناسانے دَ سپهر د شهاب کړمه
د فراق غمُونه نور په نور انبار دی
په کاغذ باندِ د کوم یوهٔ حساب کړمه
په قلم باندِ د هیچا حکم نشته
چه بے ظلمه ستمُونه انقلاب کړمه
د آګرے په کوټ کښے بند شاجهان دے
دَ دارا په هغه کوم فانی جناب کړمه
خراب شوی د فلک له لاسه ډیر دی
اوس به حال دَ هغه کوم یوهٔ خراب کړمه
کهٔ د خوږ خاطر له حاله چاته کشل کړم
یا آهُونه یا ترارا یا به عذاب کړمه

---

[1] دا غزل "کلیات خوشحال خان ختک" کښے په صفحه ۲۰۵ درج دے۔
[2] کباب (کلیات)

نۀ به زړۀ زما صبرېږی[1] نۀ به بس کړم
ورځ و شپه کۀ سلامونه په احباب کړم
یو مکتوب دَ صدرخان[2] را لره بس دے
اوښکے بغرګے توېوم چه ئے جواب کړم
کۀ حفا د زمانے ده کۀ د خلق
زۀ به دا واړه په حکم د وهاب کړم
په فلک[3] باندِ د هیچا حکم نشته
چه ئے ظلم ستمونه انقلاب کړم
په ډېر غم کښے هیڅ خبر نۀ یم له حاله
چه زۀ دا وئیل په وِښه کۀ په خواب کړم
حاسدان مے په مثال لکه کِلاب دی
حیف نۀ دے چه به جور د کِلاب کړم
شیخ[4] احمد دِ هیڅ خلل د ایمان نۀ کا
دا خیرے ډېرے خرے یو دریاب کړم

---

۱ سرېږی (کلیات)
۲ دخیل اشنا (کلیات)
۳ دا شعر "فراقنامه" کښې نشته ـ
۴ دغه او دغه پسې، دا دواړه شعرونه "کلیات" کښې نشته ـ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خو دې لاس په نیزه ایښې دې که مرد دې
چه بیا بیا دوباره خط په مستجابؔ کښم
ما خوشحالؔ په خوب دا حال لیدلے نهٔ وُه
چه به دا د غم بیتونه په پنجاب کښم

○

۱ے گرفتارئ نه پس هندوستان ته د لیږلو په موقع د مغلی سپاهیانو نه علاوه د محب خیلو مومندو کومه پهره چه په خوشحال خان خټک مقرر کړے شوے وه - مستجاب خان ، او مصری خان دا وُدنے د دغه پهرے بدرقه وو -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ۲

نجومی[1] چه قدم نه ږدی بې نجومه
موت و فوت و ناکامی مومی له کومه؟
چې ګړې ګړې د ورځو شپو تیریږی
پکښې راشی په چا نیکه په چا شومه
ځان به خلاص نهٔ کا د ید ساعت نه شره
نجومی ئې کهٔ خبر دے له علومه
نیک و بد ئې په قبضه کښې د قضا وی
بیهوده[2] خبرے مهٔ پیمه څهٔ د رومه
مقدر به په هیڅ رنګ مبدل نشی
هر سړی لره ورځې بخره مقسومه
کهٔ په پوهه افلاطون د زمانے شی
دقیقه به د قدر نهٔ کړی مفهومه
ګډې چړک تر زمکے لاندې اوبهٔ وینی
ولے نهٔ وینی په زمکه باندې لومه

---

۱۔ دا غزل د کلیات خوشحال خان ختک" په ص ۲۰۹ درج دے
۲۔ بیهوده خبرے مهٔ پیمه ورددرومه (کلیات)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په تنزری نن دګانده حال معلوم دے
وے بند شی د هلکو په کړکومه
ورځ و شپے سره همه نه دی یکسانے
نن یوه ده ګانده بله شی معلومه
وَ سرې ته په وار وار هغه رسیږی
چه[۱] دده په پیشانی ئے وی مرقومه
په خوشحال یوه هغه ده بله دا شوه
بیا به ګورو په قسمت پیشه شی کومه

○

---

[۱] سهو چه دده په پیشانئ باندِ مرقومه (کلیات)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ۳

څهٔ[۱] به وائيم ددے نفس له اغزميښته
نفس آدمؑ دے راويستلے له بهشته

چه پکښې د دوارو کونو مراد موے
هغه چار دِ تر نظر لاندِ کاز شته

که[۲] دِ ذرهٔ دے چه دِ دواړه جهان خپل شي
درته وائيم له همه جهانه تښته

دَ کيميا د بوټي ګل کله مونده شي
څود[۳] ښو تلي ګلګون نهٔ کړے په غوښته

د سړيو په غفلت پوړے حيران يمه
چه په ګورکښې توړے خاوړے هومره نشته

بيا به څهٔ له څوک طلب د دنيا کاندي
چه ئے خلاص نهٔ وي يو دَم د کار له کشته

---

س[۱] دا غزل د کليات خوشحال خان ختک په ص[۳۹] هم درج دے۔
س[۲] دا شعر کليات کښې نشته۔
س[۳] سه چه د ښو تلي ګلګون نهٔ شي په غوښته (کليات)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کهٔ تر سَر لاندِ بالښت کیږدے د پرونو
عاقبت[1] به دِ دَ سر لاندِ ښی خښته
دَ دُنیا مِینه په مثل دَ خارښت ده
هیڅوک نهٔ وینم خالی له دے خارښته
دَ صحرا په کاڼی ږخه[2] د شیطان شوه
عیسیٰؑ سر په مزکه کیښوله بالښته
د ږیرهٔ مِینه په مثال لکه پتهک[3] ده
چه د کوږے خښتن وهله هورته رغښته
غم یے واړه د اشنا د بیلتانهٔ دے
دَ خوشحال خهٔ سرکار ښهٔ له جوړښته

---

۱ سه عاقبت به تر سر لاندِ کاندِ خښتهٔ (کلیات)
۲ حسد - کینه -
۳ غونډه سکه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۴)

خوک[۱] په نوری دَ کعبه ځی په هنې هنې
خوک دیوړے[۲] لره چلیږی په جے جے[۳]
دواړه توکه په معنیٰ په حقیقت کښے
په هر لوری غورځوی واړه دے دے
عاشقانو ئے صد هزار یوه معشوقه
په هر لوری ورپسے دی په بے بے
خوک په کور دننه ناست ورسره کیل کا
خوک همیش ورپسے ګرځی په ے ے
میخانه یوه هزار پکښے خمونه
د مستانو ئے نارے دی چه مے مے

---

۱ "په کلیات خوشحال خان خټک کښے راغلے دے - وګوری ص۳۸۱
۲ دواره - د هندوانو معبد لکه ټهاکردواره - ګردواره -
۳ د هندوانو نعره ده - د ستائینے کلمه ده - مطلب ئے دے
" فتح او کامیابي "

کهٔ هما نهٔ کهٔ تجیر دے کهٔ کرګس دے
د هر چا ځے خپل خپل شان دے خپل ځنے[۱]
هرڅوک وَصل د خپل اصل پسے غواړی
چه نارے دَ جُدایئے وهی نے نے
زهٔ خوشحال چه دَ وحدت په میو مست شوم
وایمُ داچه کاوس کله وه کےَ[۲] کےَ

---

۱ سایه - سورے -
۲ د قدیم ایران د بادشاهانو لقب وه - خاص طور سره کیخسرُ په دے نامه یادیږی - کیکاوُس هم دیو قدیم بادشاه نوم دے -
دَ دویم کےَ معنیٰ ده کله، کوم وخت یعنی د وحدت په میو هسے مست یمُ چه د بادشاهانو نه بے نیاز او بے خبره یمُ - (کامل مرحوم)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ۵

شیرازی[۱] که نهٔ خوراک وُه وار[۲] وه تیرشهٔ
ملوکی که نهٔ پوشاک وُه وار وُه تیرشهٔ
کهٔ خپلوی دٔ زنبٔ فرزند وُه حال ئے دا دے
کهٔ له خلقه زیست وژواک وُه وار وه تیرشهٔ
کهٔ منصب وُه کهٔ خانی کهٔ سرداری وه
کهٔ په لاس ملک املاک وُه وار وه تیرشهٔ
فرش فروش نقش و نگار دَ محلونو
کهٔ بستر مے عطرناک وُه وار وه تیرشهٔ
په هر کال[۳] به چه راتلهٔ د سوات بازونه
خپه مے زړه پسے الواک وُه وار وه تیرشهٔ

---

۱ دے غزل دپاره وګورئ "کلیات" ص ۲۹۹ -

شیرازی خوراک نه مطلب نان شیراز یعنی معمولی خوراک هم کیدے شی او

بنیرازی (وده - ترقی - بالیدګی - خوشحالی) مطلب تِر هم کیدے شی -
(کامل مرحوم)

۲ واړه تیرشهٔ (د فرانتنامے قلمی نسخه)

۳ دا شعر "کلیات" کښے نشته)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چې له ښکاره به په خیال راتلم وکورته
سور به تل زما فتراک وه وار وه تیر شه
تار په تار د اکوړخیلو کړه لاړې
په دا ترغ مې ځان هلاک وه وار وه تیر شه
خپل پردی نیکان بدان له هره لوریه
په دربار به مې بلغاک[1] وه وار وه تیر شه
اوس یې روح د ملنګۍ د دونهۍ دے
د خوشحال چې سراې او تاک[2] وه وار وه تیر شه

---

۱. آواز چغه - ناره
۲. کره - د استوګنې ځاې
(کامل مرحوم)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۶)

په[1] خوني هاتي سوره شوه مے پرسته
زه هم مست هاتي هم مست دے دا هم مسته
خدائے د درے وارو مستانو سره سرکړ
بله نشته یا به نیست شي یا به هسته
نندارو لره ئے راشئ نندارچیو
یوه لویه هنګامه شوله پیوسته
چه[2] ئے ستا زلفينے کښیوتے په لاس کښے
لاس ئے پریوزه که ئے دے پریږدی له دسته
چه[3] د شلو کالو زهد، صبر، ثواب وه
په غنچه مے په زمان یووړ له دسته

---

سـ۱ دا غزل کلیات خوشحال خان" کښے په مـ۳۷ هم راغلے دے۔
سـ۲ دا شعر د فراق نامے په قلمی نسخه کښے نشته۔ د کلیات خوشحال خان نه رانقل کړیشو۔ سـ۳ دا شعر په کلیات خوشحال خان کښے نشته۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یار د ما سره په کور دننه ناست وُه
زهٔ بې روحه ګرځېدم ددهٔ په مرسته

ما په وړیو سترګو ډېر یاران خوړلی
په ځېر ځېر د مخ ته نهٔ ګورم له کسته

د خوشحال په ځان د ډېروغشی لګ دی
خو هم دهٔ ژده چه دے مری دچاله شستنه

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۷)

د غزرقیٓ اوبهٔ چه پاس واوړی تر سر
د جهان له حاله هیڅ نهٔ وی خبر

خبردار ے په پسارهٔ په وردهٔ نهٔ وی
چه دریاب تر کومه لاړ دے په ن تر

اوس مے درست صورت د غم په دریاب ډوب دے
په هیڅ باندے مے نهٔ لګی نظر

اندرون بیرون همه په غم کښے ځار شوم
هم د غم سره مے یو شهٔ درست پیکر

تر واک او تر وند مے همګی واړه په غم شهٔ
غم په مثل لکه اور زهٔ سمندر

شش جهته مے خالی د غمه نهٔ دی
په هر لوری واړه غم شوم زهٔ احقر

---

۱ دغه غزل دپاره د "کلیات" ص۸ وګورئ۔ د۱ غزل
هلته صرف درومبی پنځهٔ شعرونه لری۔ باقی شعرونه
سره د مقطع نهٔ لری۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په ټړا ټړا مې وښکې پاتو نهٔ شوې
په تمامه میاشت مې نشي بانړه تر
غم په هسې شان بهوب بیخوده یوړم
چه مې هیر شهٔ د یارانو نښهٔ بستر
هغه خیز چه د نظره مې پنهان شي
وائې هیڅ ئې په جهان نهٔ وُه اثر
دَ غم شپه لکه یو کال شوه نهٔ تیریږي
په خوشحال باندې به کله کړې سحر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ٨

په ګنډلو سره ډیر ټوکی یو کیږی.
د یوهٔ په بے نمازئ یل بے نمازیږی
چې ګنډلی سره نهٔ وی تار پتار وی
د یوهٔ بدی تر بله نهٔ رسیږی
په جهان کښې کهٔ یاری کهٔ[1] آشنائی ده
هسے یو د بل په غم سره بخښیږی
یو چې وُ ژاړی بل هم په ژړا سر کا
وے یو د بل په خوږو نهٔ خوږیږی
د سړیو حال به څهٔ کړے څاروی ګوره
چې په سوهٔ په بیلتانهٔ سره تیریږی
د خوشحال په دا خبرو عرض څهٔ وُه
همکی ئے د زړهٔ خوږ وی چې ویریږی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۹)

زمانه[۱] راته په څو پرته په څوَ وَه
زړه ئې واخستهٔ خوږي مزري د ږوَ وَه
ودانۍ ئې په ډير غم په ځيګرخوَن وه
ويرانۍ ئې راشه ګوره په څه دَوُ وه
د بې دردو يارړي ما غنم ګڼړله
چه مې وليدله سر تر پايه ځوَوَه
تندر تل په مناړو باندې پريوځي
د خسوف بلا د مياشتې په پرتوَوه
حق ناحق ئې وچ[۲] لاوُنده ويله کښيښول
ظالمې د اورنګ زيب پره د ټو وه
په هستۍ[۳] په نيستۍ حکم د هغهٔ دے
چه په حکم ئې دُنيا په يوه شو وَه
هغه يو[۴] هندو بچه به چيرته غوارم
چه زما د زړهٔ متاع باندې ګرو وَه
زړهٔ[۵] نوى شهٔ ياران ووخلهٔ جُدا کړهٔ
د خوشحال د زړهٔ خوشي[۶] په هغه نو وه

---

سا[۱] "کليات" ص ۲۹۳ - ۲۹۴ وګورئ س[۲] وُچ و تاند (فرانامه قلمى نسخه)
س[۳] دا شعر په "کليات" کښې نشته س[۴] تور
س[۵] د زړهٔ نوى (کليات) س[۶] دمه (کليات)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ښار سفر له دے دُنیا نه حقیقت دے په رښتیا
که هزار کاله پائیږے هُم دِ نهٔ وینم احیا
راشه وګوره همزولی چه ئے ځائے دے په بَید یا
باندِ جوړ د خاوړو ځلی ږغونه باندِ کیا
که ئے ګور کړے سره بیارته هیڅ به نهٔ وی مهیّا
که ناړے وریاندے وکړے هیڅ به نشی درکویا
چه دا حال به سترګو وینے او عمل کوے دا هسے
چه پرې یکشی.. .. .. .. .. .. .. ..
چه خوُنی دے دا دریا توړے خاورے شول به اورکښے
چه د سترګو وَتوتیا .. .. .. .. ..
دا جهان فنا پذیر دے تر ثرا تر ثریّا
دَ دنیا محنت راحت وی تاریکیُ دَ حِنا
که د عیش طلبګار ئے د جنجال نهٔ ئے جویا
ترا طلس ښهٔ ده شړیٔ تر نیلم ښهٔ ده بوریا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نړۀ تړل په دُنیا مکړه بود نۀ نښته دا شیا
مونږ په مثل دَ دانے یُوپاس په مونږ کرځی اسیا
باندِ پریوځی مُوتے خاورے په مرګ نۀ مری اولیاء
اَولیاء دی په جهان کښے په مثال لکه کیمیا
د باطن خِیرے ورکینږی په صحبت د اصفیاء
یو سجود په اخلاص ښۀ دے نۀ سل نړه په رِیا
همکی وښو خویو نو .. .. .. .. .. .. ..
وابسته دے په یحیا
د خوشحال[1] درنځ علاج په یوه خدائے دے
چه له درده سره تل ښوری اشول[2] کا

○

---

[1] دا مقطع د خوشحال بابا دَ هغه غزل ده - چه مطلع ئے دا ده :-

خدائے چه تار په تار یاران بیا سره تول کا
تورے خاورے به په سر د رنتبول کا (اوګوری کلیات ۲۱۱)

[2] آه و فریاد

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۱۱)

چه[۱] پلوله مخه نهٔ اخلی دلبره
مګر شپه د خوار عاشق شوه بې سحره
نه مې زړهٔ په ما نرمیږي نهٔ کروهیږي[۲]
خدایا څهٔ مې سرلګار شهٔ له کافره
نهٔ مې[۳] خوب نهٔ مې خوراک نهٔ مې قرار شته
همیشه را باندې تبه وي شپیره[۴]
د وصال امید رنځ[۵] دې لږ راپاتو
او کهٔ نه بیلتانهٔ و وژلم اکبره[۶]
په یوه نفس کښې زر خطوُنه راوړي
په هر لور چه غوږ زوُم د زړهٔ کوتره

---

ع ۱ "کلیات" ص ۸۱ - ۸۲ وخیږی۔
ع ۲ دکروهید لو معنیٰ ده متوجهٔ او اماده کیدل او قبلوُل۔ فارسی ګروید ن (کامل مرحوم) وهلے کوزه پښتونخوا کښې دخوف، ویره او ترهه معنی هم ښندی
س ۳ نهٔ مې خوب نهٔ مې قرار نهٔ مې ارام شته۔ (کلیات)
س ۴ نویه تبه۔ توره تبه۔ میعادی تبه۔ تپ محرّقه۔
س ۵ باقی خان رس ۶ اکبر د خدائے تعالیٰ نوم هم دے او اکبر د خوشحال خان یو خوږ دوست هم وهٔ۔ (کامل مرحوم)

د معشوقے په پالنګ به هغه خیژی
چه له سره نهٔ بیرون کا دَ سر وٌیَره
غلیوانړ[1] چه هُنر نهٔ لری ازاد دے
باز په دوارو پښو بندی دے له هُنره
خهٔ وه خهٔ شوه خبر نهٔ یم بیا به خهٔ شی
اے یوه خدایا زما په حال خبره
خهٔ یوه نیزه خهٔ دوه خهٔ تر دا زیاتے
دَ غریق اَوبهٔ چه پاس واوُړی ترسره
مګر[2] خضر مے مدد شی دُعا را کا
چه لاهو بیړۍ مے ووزی له خطره
خو ئے ځله هر ساعت شی هومره ځله
د خوشحال سینه لګیږی له حجره
نور[3] خهٔ نهٔ کهٔ ئے یو خال په نظرکښیوزی
د خوشحال مهره په وچ له ششدره

○

---

[1] غلیواج یا غلیواچ یا غلیوانړ یعنی تهپوس ۔ زغن ۔
[2] دا شعر د "فراقنامے" په متن کښے نشته ۔
[3] دا شعر په "کلیات" کښے نشته ۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ۱۲

خسته[1] زړه مې چه نګار هوړې هوړې وی
هو هزار[2] مې چه بهار هوړې هوړې وی
زړه مې څکه د زلفینو په ارمان مرم
هر څوک وائی چه ګنج مار هوړې هوړې وی
ګله نه[3] یار غواړې ورځه رقیبان ګوره
د ګلابو ګل چه خار هوړې هوړې وی
د ښادۍ خوان مې نورو وته کښیښی
غم مې واړه چه دا خوار هوړې هوړې وی
په ګلونو باندې ګشت کاندی بلبلې
پروا نه غریب چه نار هوړې هوړې وی
ټپوسی به په مردارو باندې ګرځی
وَ هنده شهند چه ښکار هوړې هوړې وی

---

۱ـ وګوری "کلیات" ص ۳۸۶
۲ـ بلبل ـ (کلیات)
۳ـ دا شعر او دغه بیت دا دواړه د فراق نامې په قلمی نسخه کښې نشته۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په هيڅ[1] زنګ نه اوښتنه څنې نشته
ديوانه منصور چې دار هوَرے هورے وی
نهٔ په باغ وي نهٔ په راغ نهٔ په بل لوری
د خوشحال خاطر چه يار هوَرے هورے وی

---

[1] په هيڅ زنګ نے اوښتهٔ ورځنې نشته
ليونے منصور چې دار هورے هورے وی
(کليات)

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۱۳)

چه بنکاره په آرائش کښې شګفته شی
صلواة ئې په جمال باندې ګفته شی
آشفته کاندی روزګار د پرهیزګارو
چه ئې زلفې په عذارو آشفته شی
چه ئې نهٔ وینم زهٔ هسې ګل بلاند شم
لکه ګل له عندلیبه نهفته شی
چه د غوږو دُر ئې تهٔ وینم په سترګو
درګوهر ئې په هر هر بانړهٔ سفته شی
دَ وصال په وخت هم خوب عاشق نهٔ وی
ترو په وخت به دَ هجران به خوخفته شی
ښهٔ خو دا چه ئې بُرقع په مخ پرته وی
او کته پرې په وګړې الفته شی

---

۱. وګوری " کلیات " ص ۳۶۷ - ۳۶۸
۲. سه ترو ئې وخته په هجران به خوخفته شی (کلیات)
۳. لیوني - مئین

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زړهٔ مې وائي چه ور تلے په درنے ایل کړے
په هر ځائے چه شي دلبره ښنفته[۱] شي
و خوشحال ته د دے باغ غنچه ښکاره وه
چه به دا رنګه کهلونه شګفته شي

○

---

۱ واوریدے شي ـ

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۱۴)

عشق[1] ترڅوانه نه ږوړ لا کا ږړ نسکور
په پخه ونه لا سندۀ نګیږی اور
اندرون د هرچا شین د عشق په شین[2] دے
دا یو اور دے نګیدلے نور په نور
چه په عشق کښے څوک پیغور ترړی په نورو
هم په دۀ پورے به لړ وی دا پیغور
زاهد ورچانے[3] انکار کاندی له عشقه
نلدمن[4] لیلے مجنون لولی په کور
چه د مزکے د آسمان په مینځ کښے خورشته
زۀ همه وینم له عشقه سپین اؤ تور
زۀ حیران یم دا دے څۀ دی په کوګل کښے
چه په ورځ و شپه پرِتل وی شر و شور

---

[1] "کلیات"، ص۹۵ - دکلیات او فراقنامے دقلمی نسخے په دغه غزل کښے څه فرق نشته
[2] دعشق له بدوه د هرچا اندرون (دننه وجود) شین دے -
یعنی ترو بل او تکیدلے دے [3] ورچینے یا ورچانے بهر (بیرون - باهر) ته والی
[4] د هندوستان یو وطن -

په وصال کښې سل ځراسه د هجران وی
په هجران کښې خو غم یو دے نهٔ وِي نور
جهان واړه کور د عشق د محبّت دے
په خوشحال باندے باندې شو رَتنبوُر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۱۵)

راته[۱] نسی جانانه د شرابو پیمانه
د شرابو پیمانه راته نسی جانانه
مغنی په چغانه راشه بیا کښیږده لیندۍ
راشه بیا کښیږده لیندۍ مغنی په چغانه
کور دے دا که بُت خانه پکښې تولے جونه ناستے
پکښې تولے جونه ناستے کور دے دا که بُت خانه
یاس په سر د آشیانه تورکارګه قمر ترِلاند
تورکارګه قمر ترلاندِ یاس په سر د آشیانه
ګوره جوړ دام ودانه زلف و خال د هغې مستے
زلف وخال د هغه مستے ګوره جوړ دام ودانه
په ګیسو کښیږده شانه چه د مشکو بوۍ لا ډیر شی
چه د مشکو بوۍ لا ډیر شی په ګیسو کښیږده شانه

---

[۱] کلیات ص۲۹۰ ـ ۲۹۱

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عشق مجنُون کړ فرزانه شک گمان نشته په دا کښې
شک گمُان نشته په دا کښې عشق مجنُون کړ فرزانه

ته عاقل زهٔ دیوانه ځهٔ مو رُخ د مِنکریه
ځهٔ مو رخ د مِنکریه ته عاقل زهٔ دیوانه

دا غزل دے رندانه ما خوشحال ختک وئیلے
ما خوشحال ختک وئیلے دا غزل دے رندانه

O

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۱۶)

ننګيالی[۱] قبلوی ګور ګورخونه دے د تنبور
لس په کال پر ننه وزی ځنی ووزی درے څلور
مور زادی په بلا پروت يم چه بلا هورے هے کور
ننګيالی د ننګ دپاره په هر ځه نګوی اور
سر[۲] په باد د سری پريوځی چه ئے نه وی ژوندون نور
چه په نام وننګ اړ نه وی که تل ژوی مخ ئے تور
د جهان بلا دِ کلَ وي خودِ نه شي ولی سپور
سر په دار لک نسوبنه دے نه لک شوه په پيغور
په همّت سرے پرده دے نه د مست هاتی په زور
هسکی[۳] په خدائے سپارلی
ځوئے ، لونړه ، ورور خور

---

۱ کليات ص۱۰۴

۲ دا شعر او ورسره لاندے درے نور يعني څلور واړه شعرونه د فراق نامے قلمی نسخه نه لری -

۳ دا شعر کليات نه لري -

(۱۷)

چې[1] بد نه کاندی خبیث
نور به څه کاندی خبیث

څنې طمع د ښو مه کړه کله ښه کاندی خبیث
چې د بل ښیگړه وینی ځان او به کاندی خبیث
که[2] ئې ځائے ورکړې په زړه کښې خوږ دِ زړه کاندی خبیث
که زما به ځله شی خدائے دِ ز رانده کاندی خبیث
ډیر ابلق[3] په خیانت کښې د ځان مله کاندی خبیث
چې جهان ورځنی خلاص شی خدائے دِ مړ کاندی خبیث

د میړی غوند خوشحاله
الوا تنه کاندی خبیث

---

[1] وگوری "کلیات"، صفحه - ۵۱
[2] دا شعر فراقنامه کښې نشته۔
[3] دا شعر په "کلیات" کښې نشته - د ابلق معنیٰ "منافق" ده۔

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۱۸)

اقربا[1] راته عقرب شول — راضی مندمے پہ تعب شول

دوارہ ترونه[2] مے نااهله — ابوجهل بولهب شول

نهٔ ئے بند کرم پہ مغلو — پہ خانئ او پہ منصب شول

رشوتونه ئے قبول کړه — پہ تلاش کښې روز و شب شول

دا لوئے خوَیہ[3] مے لوئے شه — د زړو یلا سبب شول

زهٔ ئے هند له وړان کړم — پہ نشاط او پہ طرب شول

خیلخانه مے شوه پہ غرونو — پړ کارونه پیش عجب شول

نازپرور خوئیه مے واړه — پہ فریاد او پہ شغب شول

چه ئے نمرلید لے نۀ وه — پہ ځنګلو[4] تشنه لب شول

درست اولس قبیله واړه — گرفتار پہ ډیر غضب شول

پہ آه آه د فراق ئې نو — زړونه وَرِئ د عنب شول

خوشحال نۀ مونده ختکو

کۀ ئے هر خو پہ طلب شول

---

سا ص ۱۶۵ - ۱۶۶ کلیات

سا مقصد بهادرخان او فیروزخان دے۔ بهادرخان د خوشحال بابا خپل سکہ ترهٔ او فیروزخان ئے ناسکہ ترهٔ وه چه د سید امیرخان خوافی سره د خوشحال خان ختک د گرفتاری پہ سازش کښې شامل وُو۔

سا مطلب اشرف خان هجری یا بهرام خان دے

سا زړکونو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۱۹)

غم ښادي چه په چا وير شي
لکه وير شي هسې تير شي

سر ښته ـ مونده نشي ‌ ‌ ګوناګون د دور پير شي
چه په خوا په خاطر نه وي ‌ ‌ هسې چار به تا دير[2] شي
په هجران کښې غم د يار دې ‌ ‌ چه هميش تر زړه چا پير شي
خوشحال[3] د خپل زحمت کړم ‌ ‌ کم بختي ده لا ډير ډير شي
هر چه ووايه له سترګو ‌ ‌ عاقبت له دِ له هير شي

چه به سخن په خوشحال کا
ګنډ زر دده په خير شي

---

[1] وګورئ "کليات" ص ۴۳۵-۴۳۶ -
[2] درشي -
[3] دا شعر "کليات" کښې نشته -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (٢٠)

اورنګ[1] زيب چه اُرائش د تخت وتاج کا
تخت و تاج به ئې مرګ کړي تخت و تاراج کا
په جهان کښې به ئې پاتو ښهٔ بـد نوم شي
دهٔ ړده چارې د کسرئ کهٔ د حجاج کا
زهٔ غمژن په عيد په جشن خبر نهٔ شوم
کهٔ درست خلق دَ دِهلي ئې اِبتهاج کا
د[2]وه مئين چه په هواد وبله بيل شي
خدائې ئې څهٔ رنګه[3] د تش سلام محتاج کا
اوبهٔ سترګو لره لاړې او د زړهٔ شوې
خوک به څهٔ رنګه تروندون په دا مزاج کا

---

۱ وګورئ "کليات" ص ۳ ۔ ۲ څهٔ شکل "کليات"

نوټ:- ............ په دې غزل کښې خان په خوبيښتو نو کښې د خپل قيد وبند د مصائبو او د نورو تيا ذکر کړيدے۔ په تاريخ مرصع کښې کښلي دي چه په دې موده کښې به دهٔ سخت رنځ او مرض راغلے وهٔ خو خدائې پاک وساتهٔ۔ خان د ګرفتارئ نه پس په رمضان ۱۰۸۲ه کښې دهلي ته رسيد لے وه او دا غزل هم هورې دوړوکي يالوړئ اختر په موقع وئيلے شوېدے۔ دېل کال د وړوکي اختر نه وړومبې خان د رنتبور کوټ ته د رجب په مياشت کښې واستولے شو۔ (کامل مومند)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه په رګ مې ګُټې کېږدي زنګ يُې زېړ شي
طبيبان به مې په څو د رنځُ علاج کا
جُدائی د ما په زړهُ کا هسې چارې
لکه باز يُې په تارو يا په دراج کا
زما وُښکې د ګوګل په جوش پيدا دي
لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوک چه د قضا له شسته خيژي
زمانه د خوشحال زړهُ ورته اماج کا

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۲۱)

ناقرار[1] زړونه قرار شوي
د زړهٔ غم يې تار په تار شوي

د هجران غمونه لاړې    بيا د وصل دندو کار شوي
هغه لاس چې بې حنا دي    په حنا سره نګار شوي
شانه وړه غلې تر زلفو    ځنجهٔ سترګو سره يار شوي
په ګنګوڅې زېړ پروني    په څوه سره خال دار شوي
د پاښيلو د خړ بو    په هر لوري تړ زنګهار شوي
وار د غم د زړه لاړې    وار د بوس د کنار شوي

په عذار د مهو شانو    بيا کبود کبود پرهار شوي
چې خوشحال ور پسې مرينه
ورښکاره هغه ديار[2] شوي

---

[1] د کوريځې "کليات خوشحال خان خټک"، ص ۳۲۷

[2] ديدار - (کليات)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# (۲۲)

هر خاطر چه نا قرار شی[1]
قرار به یې په دیدار شی

چه خپل نظر وجانان ورکا هغه خځ په خوارئ خوار شی
هسے سیند لرم په سترګو چه جمنا ورته روډبار شی
یو څه راز لرم په زړه کښې هیڅوک نشته چه رازدار شی
هسے زار یم له فراقه[2] چه غلیم راسره یار شی
زه هم عار لرم له خلقه که د خلقو لما عار شی
واویلا دار[3] و به څه کړم پرهار ونه په پرهار شی
هومره[4] ډیر شیخان پیران دي نشته یو چه مددګار شی
د سرو سرو آهونو ډیر غمونه تار په تار شی
په هجران[5] د خنده رویو
د خوشحال ژړا آزار شی

---

[1] "کلیات" صـ ۴۸۸ - ۴۸۹
[2] بیلتونه } کلیات
[3] علاج }
[4] دا شعر "کلیات" کښې نشته۔
[5] بیلتون ۔ "کلیات" (۶۱) خندا (دَفراقنامے قلمی نسخه)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ۲۳

سترګې ستا غړوي زړهٔ     سترګې ستا پټوي زړهٔ
چې دِ خُله خوزوي دې دے     ژبه ستا ویوي زړهٔ
چې څهٔ کار په لاس وبښې کړې     دا هم ستا نیوهٔ وی زړهٔ
اوریدهٔ په دواړو غوږو     هُم په تا اوري زړهٔ
چې نیکي کړے یا بدي کړے     واړه تا سندوي زړهٔ
چې خندا کړے یا ژړا کړے     خندوي ژړوي زړهٔ
دواړه کون لکه تن دي     کار د تن جوړوي زړهٔ
زړهٔ بېچون او بېچګون دے     څوک دا غوښه ګڼړي زړهٔ

د خوشحال په زړهٔ کښې یو دے
څوک ئې څهٔ لټوي زړهٔ

---

۱ "کلیات" صـ ۲۹۷

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۲۴)

چه دِ درسته راته شاکړه
ظلم ولے کړے یک لخته
دا ماند کوم له تانه
که مانه کوم له بخته
په هر دم دِ په مانړی مرم
خو په مړګ د مانړی دوخته
په خوشحال وشوه یک لخته
آسمان لیړے مزکه سخته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۲۵)

کهٔ عیبوُنه لری سل طالع دما
یو هُنر نشهٔ لری تل طالع دما
چه دُشمن مے چرے پاسی په جهان کښے
نور پاسی په خورلځ طالع دما
چه شطرنج مے زده کا وه په ابتدا
په زمان مے ماتیدهٔ وو د بادشاه
یو ځل ترغ زما حریف وښهٔ مات وکړ
ماته خهٔ رنګے زر مات شی دا بادشاه
شاه وما وته دا حال په زړیه وو ے
کهٔ انصاف د ے واړه ستا د ے دا ګناه
کهٔ شاطر مے په لاس واخلی هاله ګوره
چه دا هسے مے په حال نهٔ وی پناه
دا حاله کهٔ نهٔ وے چه دمه راکا ګاه ګاه
سین د جُدایئ به اوس وُړے وُمه آه
هسے تیز باران په خوشحال د ے غم دلاسه
ځائے نِسی تو برے په زړهٔ کښے بل تو بری دیاسه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## (۲۶)

چې هنر[۱] د بزرګۍ درخخه نه وي
طالع خړ کا تا په سر واخلي مګر

چې په اُس کښې څه هنر وي هاله ښه وي
او که نه ورځني بهه وي لا ښه خر

که طالع او هنر دواړه سره کیږ دے
زه خوشحال به پکښې غوره[۲] کړم هنر

بے هنره که بادشاه د درست جهان شي
هیڅوک نه پسندي په ده د بوبلي چر

هنرمند ہے که ګدائے شي کندول واخلي
په لیده به ئے هرڅوک شوي وي سر

---

[۱] دا اشعار په "دستارنامه" کښې هم شته (وګورئ ص[۲۹] او ص[۱۵]، د پېښور او کابل چاپ نسخې)

[۲] د پېښور او کابل په چاپي نسخو کښې "ونسم"، "ونیسم" دے

## (۲۷)

شیخ زاده د هندوستان
خوا جها د بدخشان
همه دادی چه یې غواړی
هغه سرهٔ تور کافران
کهٔ دِ لاس ورباندِ یر شی
صرفه نهٔ بویه زمان

## (۲۸)

چه یې ترس له خُدایهٔ نهٔ وی
نومځ زوژه دَ هغهٔ څهٔ وی
سکه دیګ په نغری کیږدی
چه پکښې تشې اوبهٔ وی
چه په باغ کښې یو ګلاب وی
په تمام عالم رسوا وی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

آه د عشق د آه سر ده
چه ځان وُچ کا ګوُنه نر ده
آه د عشق د بیدا دی
چه خوُنی لری وا دی
آه د عشق له شرا شوره
چه غم راوړی نور د لوره
آه د عشق له حاصِلاته
ځان رسوا خوُنه میراته
آه د عشق ستیرهٔ خارونه
چه په نرهٔ کا پرهرُونه
آه د عشق د بَده تاوه
چه سرے کاندی بے آهٔ
آه د عشق د ډیرے ځلے
سرے لمبے په ګوګل بلے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

واویلا فریاد فریاد
د فراق له لاسه داد
واویلا فریاد آه آه
جدائی وکاږي ساه
په سرې دَ فراق غم
ژړا ورځ کاندی تورتم
یو غم شهٔ دے نهٔ بیلتون
چه دِ یوخ کاندی لړمون
په ژغ یو ځله سړے مری
په هجران سره څو دے مری
په مرګ یو ځله آدم مری
په هجران سره هر دم مری
زهٔ چه تل سبا بیګاه
نور څهٔ نکړم بې آه آه
دا ساړه آهونه نهٔ دی
سرے تبې دَ لړمانهٔ دی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اٰه ارمان ارمان ارمان
هر څه وے مه وے هجران
مست هاتی کړی تر ښنو لاندِ
تښل بلا شوے را اړاندِ
تن مے وُخوړے پړانګانو
یا طعمه کړے نهنګانو
یا مرغے یوړے اٰسمان ته
بیا ئے پریښوے ادمیان ته
چه په مزکه سکیدلے
تار په تار وبله تللے
د جهان لړګی واښه
سره تول کړی وُچ لاندهٔ
پړے ئے اور ولګولے
بیا ئے زهٔ وړ واچولے
دا دِ وی تر دا لا ګران
خو دِ نهٔ وی یو هجران

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا دِ وي تر دا لا شاق
خو دِ نهٔ وي يو فراق
جُدائي وي په خوزنګ
يا يار نهٔ وِينې ترخنګ
يا له موره يا له خوره
يا له وروره يا له کوره
يا له ملکه له اولاده
يا له بومه يا له زاده
يا له جاه يا له جلاله
يا له ملکه له امواله
يا له قومه يا له حشمه
يا له خيله يا له خدمه
دا همه واړه چه شمارشوې
په خوشحال بانډِ يکبار شوې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نهٔ[1] زهٔ ملک غواړم نهٔ مال
نهٔ دَ دَهر نور جنجال
نهٔ په تلهٔ دَ جهان غم کړم
نهٔ په راغله یم خوشحال
دَ اسفل فکرونه نهٔ کا
په اَعلے خیتلے فال
په اسمان باندِ پیره کړم
د همّت په پر و بال
د خیل خدائے منت را باندِ
چې ئے را نکړو بل خیال

---

س۱ وکوری "کلیات" ص ۱۷۷-۱۷۸

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بخُـــارا بخبنم هغه يُم
په ديـدن د يوه خال
و جهان وته ئ شا ده
که خوشحال مُوݐي وِصَال

○

---

۱ـ اگر آن ترکِ شیرازی بدست آرد دلِ مارا
بخالِ هندوش بخشم سمرقند و بخارا را
(حافظ شیرازی)

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ وطن مِينه اے جانه
را پيَدا دهٔ له ايمانه
هغه ملکٔ د تاړهٔ ارمان دى
چې پکښې دِ ښهٔ ياران دى
کهٔ ئے سپى وِ يخے پهٔ سترګو
هُم ئے ځائے ګوے پهٔ سترګو
نۀ دَ خپل وطن خاړُونه
نۀ دَ بل وطن ګلونه
نۀ دَ خپل ديار پيلوسے
نۀ دَ بل ديار ننګوسے
نۀ دَ خپل ديار ګرګرے
نۀ دَ بل ديار ښکرے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نهٔ قارګهٔ دَ خپلے مزګے
نهٔ شهند دَ بلے مزګے
نهٔ دَ خپل دیاږ حجر
نهٔ دَ بل دیار سرهٔ زر
چه دَ سرائے شجر حجر دي
راته واړه جلوه ګر دي
کهٔ له سترګو پسِ شا دي
له زړهٔ کله یوه خوا دي
کهٔ خشکی ده کهٔ تری دَه
چار ےُ واړه په یری دَه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# تعریف د سرائے د ملک

کهٔ د سرائے مزکه سنګ زار ده
وَ خوشحال وته فرخار ده
دا بهار لکه دَ سرائے[1] دے
هسے کله دَ بل ځائے دے
حُسن خیزه دي دا خاورے
مهر آمیزه دي دا خاورے
ملک ئے کان د ملاحت دے
پکښے نغښتے برکت دے
تر حمله[1] تر میزانه[2]
کښت ئے شی په درے بارانه

---

۱ حمل یعنی ۲۱ مارچ نه تر ۲۰ اپریل
۲ میزان یعنی ۲۴ ستمبر نه تر ۲۳ اکتوبر

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کهٔ ئے نشته سپینے وُریژے
پکښے شته دَ مالګو تیږے
ساکنان ئے ځان کُډازدی
اړ په سر نهٔ دی سرباړهٔ دی
بڼے ئے جنګ کاندی له ګرګه
په شهند ئے ورځی چرګه
ابدالان پکښے میشته دی
واصلان پکښے پراتهٔ دی
شیخ رحمکارؒ پکښے پیدا دے
د ما پلار پکښے پیدا دے
شیخ رحمکارؒ دے پکښے اُسینے
د ما پلار دے پکښے اُسینے
خاک پا د شیخ رحمکارؒ شم
د خیل پلار تر تربت ځارشم
دا شرف دده بسیار دے
چه پکښے د شیخؒ مزار دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه پکښې د شیخ یاران دي
هغه غړونه ګلستان دي
چه مے ورور پکښې طاعت کا
هغو[۱] دِ خدائ جنّت کا
خدائ دِ غم ورځُنی یوسی
خوښ خرم دِ پکښې وُوسی
چه دَ ورور مے پر مقام دے
په غر غوږ زما سلام دے
کهٔ وُړیږے کهٔ مے وریرُونه
کهٔ زما دَ ورور کورونه
په همهٔ وُ مے سلام دے
یو سلام د زړهٔ تمام دے

---

۱ جمیل بیګ دَ خوشحال بابا سکه ورور او هغه نه کشر وه۔ دیوسفزو خلاف دبلر په ورومبی جنګ کښې دخپل پلار شهباز خان دکمان لاندِ سره د خوشحال خان خټک او خپل یو وراره ساقی بیګ جنګیدلے وه۔ دغه جنګ کښې شهباز خان سخت ژوبل شوے وه۔ هر کله چه

# اشتیاق د خپل مورو سره حقیقت

چه دِ ما دَ مور قدم دے
هغه مُلک په ما ارَم[۱] دے
که د پښو تلی ئے کښنل کړم
دُرکوهر پرِ یانډِ تل کړم

---

خوشحال خان او جمیل بیگ هم نهمیان شوی وو. ساقی بیگ قتل کړے شوے وه.
جمیل بیگ عرف فقیرو، وستو بیا تارک الدنیا شو او دَ شیخ رحمکار (کاکا صاحب) په خاصو مریدانو کښے وه. په سلوک او تصوف فقیر جمیل بیگ چه په فارسیُ ژبه کوم کتابونه لیکلی دی میاں عبدالله شاه دخیل کتاب "مجمع البرکات" (قلمی. ۱۲۸۵ھ) په صفحه ۱۴۸ او ۳۰۱ د هغو تفصیل دا سے بنودلے دے :- (۱) دلِ تذکرة الاولیاء، (۲) نورمحمدیه
(دغه دواړه قلمی نسخے د پښتو اکیډیمیُ پیښور په کتبخانه کښے موجودے دی
(۳) مناقب شیخ رحمکار (۴) خلاصة الطالبین (۵) شمس العارفین (۶) اسرار العاشقین.
(۷) زبدة السالکین (۸) تحفة المقربین (۹) قدوة العارفین.
میاں شمس الدّین کاکا خیل هم دَ "مناقب جمال خان" په نوم یو کتاب لیکلے دے. دا کتاب په اکتوبر کال ۱۹۷۹ء کښے چاپ شوے او خپور شوید ے.
د فقیر جمیل بیگ مقبره د اکوړی نه اووه میله سهیل طرفته په تنګانړو نوم ئے کلی کښے ده. دده اولاد په فقیرخیل میاګانو مشهور دے. چه په چشمئی، تنګانړو، اکوړی او شید و کلو کښے اباد دی.
د وفات تاریخ ئے دا دے :-

چوں رفت از جهان این کرامت خدیو
بجز "ق" آمد زعالم "غریو"

---

[۱] الجنة تحت الاقدام الامهات (حدیث شریف) ۱۱۱۴ھ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تن مې خاوره په غم لاړ شوې
چه د دې باندې گرفتار شوې
دریغه دریغه خپلې مورې
آواره خبرې نورې
د ټبر وگړې له دې ځایه
یو ځل وړاندې تر سرایه
په هر ځا وگړځیدلې
حال د واړو ولیدلې
چه مې مور په غم کښې څه کا
چه مې خور په غم کښې څه کا
د کورونو حال مې څه دې
د اولس احوال مې څه دې
خوک خوشحال دې خوک دلگیر دې
خوک خندا کا خوک په ویر دې
خوک په سړئ حکومت کا
پکښې عیش فراغت کا

خوګ د سرائي د عالم خوري
غم يې نهايت خوري که يې کم خوري
په محل کښې مې خوګ ناست دې
په خواب ګاه کښې مې خوګ ملاست دې
د محل ميرمنې څه شوې؟
چه تر ورهٔ ياسيدې نهٔ شوې
ناز پرورده څوئي مې څهٔ شول؟
په کوم کوم بلاد خوارهٔ شول؟
اشرف[۱] خان په چرته بند وي
څهٔ کا څهٔ رنګه په يې ژوندوي
غم د بلار کهٔ د خيل خان کا
کهٔ د کور کهٔ د اخوان کا

---

[۱] مطلب اشرف خان هجري دې - چه د خوشحال خان خټک د قيديدو نه پس څهٔ موده اميرخان خوافي په کابل کښې په زندان کړے وه - په کال ۱۰۴۴ھ مطابق ۱۶۳۵ء کښې زنګيدلے وه، د وستو بيا تقريباً څوارلس کاله د مغلو په بند د ګواليارا و بيجاپور په زندانونو کښې بندي وه - هم د قيد دوران کښې په کال ۱۱۰۶ھ مطابق ۱۶۹۴ء کښې وفات شه - ديوان يې د "ديوان اشرف خان هجري" په نامه راقم الحروف په ورډ مېلي حل په مئي کال ۱۹۵۸ء کښې شائع او خور کړو -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# مناجات

خُدایا! تۀ حاضر په سر یې
د هرچا په حال خبر یې
لږ و ډیر کۀ ګنهګار یُم
چه راکیږی سزاوار یُم
ګنه طیراً اَبابیُل کړه
ناحق جَنُ اصحاب فیل کړه
یا یو بل طوفان نازل کړه
ناحق جَن پرِ هل جل کړه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# یاد د هغوچه له وطنه بے وطنه وی

چې میشته په سڼکاو¹ دی
په عظیم دریاب لاهو دی
دَ هغو په حال خبر شوے
را ښکاره ئې هر اثر شوے
چې څه خوری څه ئې خوراک دے
څه ئې څواک څه ئې پوشاک دے
کوم روزګار کاندی په غم کښې
کوم کوم کار کاندي په غم کښې
حال د جټ² د مورڅه شان دے
زړهٔ ئې څو ځایه پریشان دے

---

نمبر ۲ کامل صاحب لیکی چې دا د خوشحال بابا" خوږے یحیٰی خان چې هغهٔ به ورته د ډیرے مینې نه " جټ " وے :-

نمبر ۱ مردان تحصیل کښې د سیکری نه قطب نمرخاته طرف ته تقریباً د دولسو میلو فاصله د بابا ئیزو په تپه کښې دیو کلی نوم -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ خلوؔ [۱] دَ مور ښځهٔ حال دے
په ښځهٔ ښیز ئے اشتغال دے
ښځۂ کا مور د صدرؔ [۲] ښځهٔ کا
جُدائی شوه خُدائے خپل کړهٔ کا
حال به ښځهٔ دَ بازؔ [۳] د مور وی
په اور سوے لکه سکور وی
هُم صورت هُم صوریت
واړه غم سره لت پیت
ښځۂ مے خُویهٔ ښځۂ مے لُونړه
ښځۂ مے خویندے ښځۂ مے ورونړه

---

[۱] خپل نوم ئے خالد خان وه ۔ ددهٔ مور د دولت خان ولد علی شاه ولد شهباز نون یال لورره ۔

[۲] دخان خُوئے صدرخان ۔ ددهٔ مور د ملک ملوخان ولد ملک اسماعیل خان یوسفزی لوروه ۔ صدرخان د دوړے په جنګ د پلار سره وه ۔ سه کهٔ خدائے ئے راته پرېږدی ذوالفقار دے صدرخان

[۳] پوره نوم ئے شهباز خان دے ۔ دخوشحال بابا" خُوئے دے ۔

څهٔ یاران څهٔ عزیزان دی
څهٔ په دا اُتش بریان دی
وویشت[27] څویه دوه[2] دیرش لونړه
دوه[2] مے خویندے درے[3] مے وروڼړه
تر فلیا تر عطا میره
تر نقیره تر قطمیره
حال دَ واړو را اظهار شوے
په هر څهٔ ئے خبردار شوے
هغه ملک دِ خدائے گلزار کا
چې مے څویه پکښې ښکار کا
هغه ملک دِ خدائے آباد کا
چې مے کشت پکښې اولاد کا
هغه ملک دِ خدائے معمور کا
چې هلک مے پرِ سرور کا
هغه ملک نۀ دے بوستان وي
چې پکښې سعادت[1] خان وي

---

[1] په کال سنه ۱۰۵۲ مطابق سنه ۱۶۴۲ کښې پیدا شوے وه۔ دَ خان د قید په دوران کښې ئے د میرباز خان او باقی خان سره دَ خان په آزادولو کښې اهم کردار لوبولے وه۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه ملک سراسر کام دے
چه پکښې د ما بهرام[1] دے
هغه ملک واړه ګلفام دے
چه پکښې د ما نظام[2] دے
هغه ملک د مشکو هټ دے
چې پکښې د بابا جت[3] دے
هغه ملک عشرت آباد دے
چه پکښې د ما آزاد دے
هغه ملک واړه بخمل دے
چه پکښې د ما افضل دے[4]

---

۱ په کال ۱۰۵۳ھ مطابق ۱۶۴۳ ؁ پیدا شوے وه - د مغلو طرفدار اوخېل عظیم پلار خلاف ئې محض د اقتدار د پاره جنګونه کړی وو -

۲ په کال ۱۰۶۰ھ مطابق ۱۶۵۰ ؁ کښې پیدا شوے وه - د لسو میاشتو د وېندې ناروغتیا نه پس وفات شو -

۳ سه یحیٰی خان وکار ته ژغلی ؛ کار ویران کا په زمان

۴ د خوشحال بابا نمسے د اشرف خان هجری خوږئ او " تاریخ مرصع " لیکونکے -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه ملک ګل ریحان دے
چه پکښے مے عابد[1] خان دے
هغه ملک واړه سپرلی دے
چه پکښے د ما خلی[2] دے
هغه ملک واړه جنان دے
چه پکښے د باباجان[3] دے
هغه ملک له نوره واصل دے
چه پکښے د بابا[4] دل دے
هغه ملک سره تل ړنړ دے
چه پکښے د بابا بانړ[5] دے

---

[1] په کال ۱۰۵۸ھ مطابق ۱۶۴۸ء کښے پیدا شوے وه. د نونبهار کنبت او ډیره په جنګونو کښے یئے ډیره مړانه کړے وه. ولے د خان په آخری تروند کښے لکه د بهرام خان دے هم د خپل جلیل القدر پلار د پریشانو باعث شو.

[2] خلی یا خلو شاید خالد خان مراد وي [3] شهباز خان ئے پوره نوم دے.

[3] معلومه نشوه چه د باباجان نه د خان کوم خوئے ته اشاره ده.

[4] مطلب عبدالقادر خان ختک دے چه په کال ۱۰۶۳ھ مطابق ۱۶۵۳ء کښے پیدا شوے وه، د نونبهر په جنګ کښے ئے ښه مړانه کړے وه. خوشحال بابا هم په دغه نوم یو شعر کښے داسے ستائیلے دے.

ښه خوئے د بابا دل دے    تل دِ ژوی په جهان

دیوان ئے په ډیره مینه محترم حبیبی صاحب په کال ۱۳۱۷ش کښے له قندهارا او راقم الحروف په اپریل ۱۹۶۷ء کښے له پیښوره شائع او خور کړے دے. عبدالقادر خان نور هم ښو کتابونه لیکلی او ترجمه کړی دی. د عبدل په نوم هم خوږ کا په مخاطب

هغه ملک واړه اوتاک دے
چه پکښې بنګلے بخت[1] ناک دے
هغه ملک واړه ښکلے دے
چه پکښې د ما ظفر[2] دے
هغه ملک واړه ثمر دے
چه پکښې د ما سکندر[3] دے
هغه ملک کله بیدال دے
چه پکښې د ما کمال[4] دے
هغه ملک سراسر سال دے
چه پکښې د ما جلال[5] دے

---

[1] دده مور د نوښهر د صاحب خان مهمنزی لور وه۔
[2] په کال ۱۰۶۱ھ مطابق ۱۶۵۱ کښې پیدا شوے وه۔
[3] اندازاً په کال ۱۰۶۸ھ کښې زیږیدلے وه۔ د پښتو په اوچتو شاعرانو کښې ګڼړلے شی۔ دده دیوان د "دیوان د سکندر خان خټک" په نوم سره د شرح او مقدمے د کامل مومند په اول ځل په کال ۱۹۵۳ء کښې د "اداره اشاعت سرحد پېښور" له خوا شائع اوخپور شو۔ د دیوان نه علاوه د موصوف د مثنوی لیلی مجنون پښتو منظومه ترجمه هم د کابل د علوموا کیډمئ له خوا شائع او خوره شوے ده۔
[4] دا هم د خان ځوئے دے۔ کمال خان نومیدهٔ۔ دده نور هم دره[3] ورونړه وو۔ چه یو ځائے پیدا شوی وو۔ [5] جلال خان مقصد دے۔

هغه ملک دَ دَوړے خیر دے
چه پکښے مے ابوالخیر[۱] دے
هغه ملک واړه عجب دے
چه پکښے دما عجب[۲] دے
هغه ملک واړه سرهٔ زر دے
چه پکښے زما ګوهر[۳] دے
هغه ملک واړه راحت دے
چه پکښے دما نصرت[۴] دے
هغه ملک واړه واه واه دے
چه پکښے مے نجم الله دے
هغه ملک واړه خرګاه دے
چه پکښے عتیق الله دے

---

۱۔ ابوالخیرخان۔
۲۔ عجیب خان۔
۳۔ ګوهرخان چه یو ښهٔ شاعروه اودخان تاریخ وفات ئے په فارسئ
وئیلے دے۔
۴۔ نصرت۔ نجم الله۔ عتیق الله او نجیب الله دا هم د "خان"
ځامن دي۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه ملک وارۀ دِلخواه دے
چه پکښے بخیبؒ الله دے
چه پکښے مے لوئے هلک دي
چه پکښے وارۀ خټک دي
هغه ملک مے د زړۀ سر دے
همیشه مے پرے نظر دے
هغه ملک د سترګو تور دے
چه پکښے مے سپین و تور دے
هغه ځائے مے چه همدم دي
هغه ځائے مے چه ندم دي
که په تن په ترنبور یم
په زړۀ تل په هغه لور یم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# تعریف دچیل سیند

دَ لنډی اوبهٔ سلسلے
دَ حیات د اوبو سیالے
تر نباتو نه خوږے دی
دَ فرات تر اُوبو ښے دی
لِذّت ناکے تَر نبات دی
خوشگوارے تَر فرات دی
کهٔ ئے خِضر پیاله وُڅښلی
د حیات اوبهٔ به نهٔ څښلی
زهٔ چه هسے تشنه لبْ مرم
روز و شب ئے په طلبْ مرم
کهٔ یوه پیاله ئے نوش کړم
غم به واړه فراموش کړم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پاکیزه لکه زلال دي
نوے نوے کال په کال دي
سَرچشمه لري په نور کښے
دَ جنّت په الطهور کښے
دَ مستانو غونډِ کار کا
دیوانه غونډِ رفتار کا
درته وائیم چه په شوخُے
ځکه په خُله ځنځیرِ پښوځے
چه غُرنی غُرنی چه دروی
زړهٔ هیبت ورځنی موی
چه شامل شی له سیحُونه
بیماری کاندی بیرُونه
د سیحون اوبهٔ کښت زړهٔ کا
دے پرِے کړو شی کښت هاله کا
د کابل واره رودونه
د کوُنړ ، د سوات سیندُونه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سره یو شی په سرائے ړاشی
د سیحون سره یکجائے شی
نۀ مے غز نۀ مے ناړو شته
په هر جام کښے ئے داړو شته
چه ئے خښی پکښے شنا کا
ما دِ یاد هغه آشنا[1] کا
چه ئے خښی پرِ ویښځۀ مخ
د هغو دے همیش سخ

○

[1] آشنا (قلمی نسخه)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# تعریف د میرے د ملک او د بهار بنکار

د میرے مزکه مهینه
سراسر واړه وړینښمینه
په هر لور چه پکښے دروے
خوشحالی دَ صورت موے
دَ بهار په وخت کښلے
ډیښے برَمنډے پکښے تللے
نۀ ئے کانړی نۀ ئے خار وی
خو چه ځے واړه ګلزار وی
شګفته پکښے اوښے
د هر بوټی خو سړے
دَ خاتونو سرهٔ ګُلونه
نکه پېښن پیلاړ وونه

ٮڵ دغه اوُ دغه پسے شعر هو بهو نقل کړے شول ۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چې اول بهار راتلۀ کا
شندی ګل بلا ډېر ښۀ کا
سکه مخ په تور خالونه
په میرې کښې زېړ ګلونه
خاصه ګل د پیغمبرؐ وي
چې جهان پرې معطّر وي
عندلیب دَ دوئ له بوُیه
نارې کا له هره سوُیه
چې ئې بوی پهن بساط کا
سرۀ کبلې پکښې نشاط کا
تور تارو پکښې آواز کا
دم په دم ثنا د باز کا
پکښې پاسې پرېوزې ښارې
باز ئې نسې چرغ ئې نغاړي
سویه پرېږدې خیل ګندلې
په ګلوُنو کښې خملې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شغالان ، ګُړګان، کبزان
پاس پښې بنډی به ګُلان
سپيره مزکه تورې خاورې
نُورانی شی کهٔ ئې ګورې

○

# ارمان د میرې دهوسیو د آهوګردان

د میرو هوسیو دریغه
واړه ستي شوې بې تیغه
نه دې په ر تنبور
ستاسو ښکار کا هورې نور
ډیر ارمان افسوس افسوس
چې مې نورې ونه اوس
نه به بیا د ښکار سامان کړم
نه به بیا آهو ګردان کړم
نه به بیا د ښکار په جوش شم
نه به بیا انبوه پوش شم
نه به بیا زینو[1] دا دین وې
نه به بیا اسونه زین وې

---

[1] زینواو دادین د خان وفادار ملګری۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نۀ به بیا ټوپک په غاړه
را سره وی جوړه[۱] دواړه
نۀ به بیا رمه ترمیان کړم
نۀ به پیر باندِ شان شان کړم
نۀ به شس د ټوپک ویر کړم
نۀ به بیا ماشه په زیر کړم
نۀ به بیا د ما له سیره
هوسئ درومی سره ویره
نۀ به بیا وړاندِ عثمان[۲] ځئ
وړیږے به نور سپایان ځئ
نۀ به بیا حتا[۳] ځئ وړاندِ
چه ناړے سوړے په کاندی
نۀ به بیا له شادی[۴] خان
د ښکار شغل کړم خو شان

---

۱ د ښکاری سپو جوړه۔ ۲ دا هم د خان دوست وه۔
۳ دخان دیو بل ملګری نوم ۴ اګرکه شادی خان دخوشحال خان د ټرۀ
نوم هم دے خوښی وئیل کیدے چه آیا د ۲۱ شاره دهغه ترۀ ته نه اوکه کوم رفیق ئے دے۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نهٔ به بانړ[1] یحیٰ[2] خان دواړه
راشي بیا د سین په غاړه
نهٔ به ځي زهٔ د دوی دیاره
تور تاړو راوړم له ښکاره
نهٔ به بیا په محل سترے
وړشم ښکار د میرے کړے
نهٔ به صدر خوا ته راشي
چه دَ زړهٔ کلفت مے واشي

---

١ دا دریم ځل دے چه د بانړ یعني شهباز خان ذکر کیږي۔
٢ یحیٰ خان چه په "جتهٔ" ئے هم یاد کړے دے۔

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ارمان د کالا پانئ د مُرغاویو

آه وائے وائے کالا پانئ
ستا خو رنګه مُرغاوئ
مرغاوئ دِ زنګا زنګ شته
هُم دِ قاز هُم دِ کلنګ شته
د سوناوُ سِنا نُسته غاړے
چه ئے وُوینے د ویاړے
باړ به لاس دریاندِے راشی
پَر ئے پریږدی به هاهاشی
چه ئے وُنسی باړونه
ړائے واخلی کجکونه
دَ سوناوُ کجکونه
د خوبا د ړلفو ولُونه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سر ترړ پایه تر ګودر ه؟
تر ګودره تر کمره
په ارکه وَ ما لا مال دے
سونا هُم پکښې خال خال دے
نور څو ځ ترَ غله ډیره
پیدا کیږی سونا ډیره
دَ پلو به نے څهٔ شماروي
څو چه ځے د باړ ونښکاروي
مرغاوئ په هر هر لوروي
سونا هُم پکښې لا ډیر وي
آخر راشی سرخ پری
هُم سُرخ پر هم سرخ سری
کشلے سترګے دَ هینځلے
لکه سترګے دَ ښځے جلے

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

# تعریف

## دِیارسوات دښازونو دمیرې د ملک او د ښهار د ښکار

واه واه د سوات دَ ملک باڼُونو
ړنګا رنګ په ډیر رنګونو
چه یلوے پکښې په ځان وُه
هُم هغه د خوشحال خان وُه
سیه پښت توره ئې ټابه
پسے روح ځي له قالبه
باڼ هغه پیره مشتاق
چه قبول شی په دوه طاق
چه په تله[۱] کښې راغلی
یا په قوس[۲] کښې نیولی

---

۱. ۲۴ ستمبر نه تر ۲۳ ر اکتوبره۔
۲. ۲۳ ر نومبر نه تر ۲۲ دسمبره۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

باړه همه واړه ښکاري دي
ولې دوه ذاتَ سردار دي
يو تيغون چه بې بدل وي
دويم قير چه دده مل وي
هلك سر وښده ئې غاړه
تنزري له هغه غواړه
كته سر ستركې توري
ورته يو دې نژدې لرې
خلته دُم لنډه لكئ
كار د چرغ كا دَ كوهئ
باز جُره چه په رنګ سوري وي
هغه لا نره ور باتور وي
ښه جُره دَ ښه باړه كار كا
كته سر جُره ښه ښكار كا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ستانه د سرائے د غرۀ د لمنے ښکار

په هر کال د سرائے د بوژے
کۀ هر څو تنخرۍ توژے
بل کال لا یکښے بسیار شی
په هر کال دَ باڼو ښکار شی
سپین تنخرۍ مالا مال شته
تاڼو هُم یکښے خال خال شته
تغدرۍ یکښے بسیار دی
تر میزانه تر بهار دی
چه موسم ئے د بهار شی
د سیبیبو ئے هُم ښکار شی
بودنی په دواړه فضل
خپلُ خپل فضل فضل

سرائے دا مصرعه هو بهو او لیکلے شوه ـ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د هنګال[۱] کړهٔ د سپین کوبر دے
دَ ښو زرکو هوس ډیر دے
چه په زړهٔ کښے مے خارخار دے
د ډنګ ډنګ د زرکو ښکار دے
چه په زرکو پسے وا شی
د بازونو تماشا شی

○

---

[۱] د قید په دوران کښے د خوشحال بابا اهل وعیال د سیکری او سنګاؤ نه وړاندے هنګال ته تللی وو. دلے د میربابا خان، باقی خان او سعادت خان د هندوستان نه د خوشحال بابا د آزادولو په کوشش کښے رنا کام واپس کیدلو نه پس له دغه ځایه سیکری اوبیا سنګاؤ ته لاړ. هنګال په خوړه کښے دیوغرنوم دے : رسے

په دا هسے حال هم شکر کړے بویه
که سر کال مے کړه لاړه تر هنګال (کلیات ص۵۵)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# دَ نیلاب دَ ساړه توے دبزونو ښکار

دَ نیلاب د غرو بزو نه
چه ښکاره شی لوېځ ښکرُونه
ړاځۍ هی کاله غربین
مهندی تر سرا دین
دَ یرنا ناړے سوړے دِي
بزونه سرهلے هوړے دِي
دَ ناو ډنړا ډنړا وِي
د کمرو انګیزوا وِي
لکه جنګ په دوه صفونه
هسے کُوکے شی په غرُونه
چه یَرے وَرباندے ړاشی
څو خوشی د زړهٔ پیدا شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ننداره ته ئې حیران شی
وګوره ته ئې خوشان شی
ښکاریان غبرګ کا یو تر بله
لېچې وخوری وله وله
چه د تیر له سره تیر شی
په غړه باندې تکبیر شی
یو ګوذار چه رسا وشی
زړهٔ دِ بې حده ډیر ښهٔ شی
په ګوزار چه غرڅهٔ کوزه شی
نه زړهٔ د ښکاری خوږ شی
واړه لړې دَ زړهٔ زنګ شی
وَر چه کله په تفنګ شی
ما وې تل به دا هوس کړم
مګر ومرم چه ئې بس کړم

---

ص ا داشعر دوباره دا سے هم پیکھا شونبدې۔ —
رسا غشے غرځهٔ کوزه کا ‡ نه زړهٔ د ښکاری خوږ کا

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لا حیات په دُنیا پائیم
جوړ صورت ځنې جُدا یُم
له همه هوسه ولاړم
کړم خو نهٔ یم کهٔ تل ژاړم
واړه چارې ستل کارُونه
تل هوسه ستل ښکارُونه
دا همه واړه کهٔ ښهٔ دي
یکایک میشته په زړهٔ دي
چه دما د زړهٔ ارمان دي
په جهان کښې ښهٔ یاران دي
په زړهٔ زر داغه لرمه
په دیدن پسې نې مرمه
په ژړا په یوړه غاړه
په بار بار سلام په واړه
کور دِ وران و دَ آسمان شی
چې نې دَور په هر شان شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ښځۀ مئين سره جُدا کا
قتل ئې سر په واويلا کا
ګاه ئې دا لمبې ترَ خُلې ځي
ګاه له دوُو سترګو وهلې ځي
ننه زړۀ ذره ذره کا
درست ګوګل آتشکده کا
ښائسته څهرې ګلګونې
په زمان کا ذِکر ګُونې
تاريکي کاندي په زړُونو
پرِ تېږې کېږدي دَ غرُونو
درست آرام يوسي له دِله
واړه کام يوسي له دِله
عقل يل کا فکر بل کا
رنګ دِ تور لکه کوئل کا
نۀ ئې خوب نۀ ئې خوراک وِي
لکه غوږ غرځۀ الواک وِي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه غوټۍ ئے په ځان وُخوری
دا ښهٔ بوئ کا نور ئے نهٔ خوری
د ږمے سره تړلهٔ نهٔ کا
تنها ګوښے ګرځیدهٔ کا
کله پریوځی کله پاڅی
په دا کار ئے ښکاریان ناڅی
زهٔ هغه زخمی غوټۍ یم
همیشه په خوږ اخته یم
ډیر بندیان په زنبور کښے
ناست دي خوښ لکه په کور کښے
یا په خپل ګناه قائل دي
ځکه هسے فارغ دل دي
یا ئے غم تنها په ځان دے
پخپل ځائے پخپل مکان دے
یا تر نام و ننګه تیر دي
نهٔ د تیر نهٔ د شمشیر دي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

يا دَ ښکار له ذوق نهيل دِي
سرليـه خوشی په سيل دِي
يا ئے نشته ښکلی ځو وي
چې خپل ځان وَرپسے نو وي
يا ئے نشته ډيرے لوُنړه
چې هيڅ کور نۀ دے له مونړه
يا ئے نړۀ نۀ دے چيا وُړے
يا دۀ عمر دے تير کړے

# خپل حال وئیلے

هغه یاد چه کابل خیز دے
په ما واړه عنبر بیز دے
څوک چه یاد کاندی کابل
په کوګل مے شی غلغل
څوک چه یاد کا پیښور
زړهٔ زما شی منوّر
څوک چه یاد کاندی اټک
قافیه کړم هم ختک
څوک چه یاد کاندی بل سرائے
د ما یاد شی غهٔ خیل سرائے
څوک چه یاد کاندي لاهور
هم مے وُشی دَ زړهٔ ترور

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ کابل کۀ دَ پنجاب دی
کۀ سرې دی کۀ کلاب دی
چه دِ ما په نظر کښیوزی
خو مے زړۀ وربانددِ پریوزي
ید پوښتنه په پوښتنه
هر احوال پوښتم له دۀ نه
په تکرار یوه خبره
وړه وړه ورښتی تر زړه
چه پښتون راته خوک یاد کا
پرِ خوشحال شم زړۀ مے ښاد کا
ددے خوشی ملک هر څۀ شته
خو پښتون پښتنے نشته
چه له ذاته پکښے نۀ وی
هغه ملک تورۀ تیارۀ وی
په ډیلی کښے پښتانۀ وو
ورځ او شپه ئے تلۀ راتلۀ وو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پہ دیدن بہ ئے خوشحال وُم
پہ سخُن بہ ئے نہال وُم
اوس لہ خپلہ اصلہ نسلہ
یو سړے نشتہ لہ اصلہ
یو زۀ بل شاھی بیګ دواړہ
ھندو بیګ زمُونږ پہ غاړہ
دَ ھمہ اوَلسہ ګوشے
دَ لرګیو پہ اور پیشے
پہ فراق د ښو یاړانو
بلا خوښ یُم لہ چشمانو
چہ د ھر آشنا دیاړہ
پشکال شوے څو څو واړہ
ړوخ ئے دے چہ دا سیلُونہ
پہ مخ یوسی غاړے غرُونہ
ړوخ ئے دے چہ دا اُھونہ
سړے لمبے کا ډیر کوُرونہ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه بیدار وُم په دا ځائے وُم
چه اوده شوم نور په سرائے وُم
په ویښوالی په زنځیر وُم
په اوده والی په کشمیر وُم
خو چه سترګے وبله کیږدم
پخپل ځائے وُم دا ځائے پریږدم
واړهٔ جنت سره وټیل کړم
واړهٔ باڼ وته کتل کړم
زړهٔ مے حظ له صدر مومی
زر زر راشی زر زر درومی
راته ناست د بابا دل وي
یا په کښل یا په لوستل وي
کهٔ سکندر وی کهٔ ګوهر وي
راته واړه جلوه ګر وي
چه له چا سره دیدن وهٔ
یا ګفتن یا شنیدن وهٔ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه ګښت وُه يا يه ښکار وه
يا به نور د دُنيا کار وه
په خوب واړه هغه شان وِي
پړے مے درست خاطر نښان وِي
چه له خوب نه رابيدار شم
بيا له عُمر نه ويزار شم
نهٔ مے خوبه نهٔ مے وږونږه
نهٔ کورونه وی نهٔ لونږه
نهٔ آسونه نهٔ بانږونه
نهٔ خبرے نهٔ رانږونه
نهٔ مے ګښت وی نهٔ ښکارونه
نهٔ په سرائے کښے نور کارونه
يکتنها په کټ کښے پروت يُم
بنديوان د هند د کوټ يُم
دا مے حال دا ئے احوال دے
کهٔ وايهٔ شی ډير مقال دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چې په ما باندې دا حال دے
څه د پاسه يو نيم کال دے
په دا کوټ کښې بنديوان دي
مسلمان دي که هندوان دي
لږ تر ډوه سوو نه کم دي
بند په ظلم په ستم دي
چې ئې وخت د پلار نيکۀ وه
هومره بند په دا ځائې نۀ وه
چې پادشاه د هند اورنګ شۀ
بيدادي شوه جهان تنګ شۀ
د کوټونو بنديان ډير شول
تر حساب تر شماره تير شول
هم زاړۀ هم راجګان بند دي
شيرخوارۀ هلکان بند دي
دا چې بند د ما سره دي
په هر سند وَ ما سره دي
را ته واړه تلۀ راتلۀ کا
واړه کار د ما په زړه کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

راته لولي کتابونه
راته وائي خپل حالونه
په شطرنج مے نړه بيربير کا
چه که غم له دِله وهير کا
که قصّے که افسانے دِي
دا همه ما نے بانے دِي
نړه مے سود په هيڅ نه کا
اور چه بل دے اوبه څه کا
خوک چه نرد را لره راوړي
وائيم درد رالره راوړي
چه شطرنج را لره راوړي
ګويا رنځ را لره راوړي
هغه زړونه چه رنځور دِي
له همه هوسه دُور دِي
بے دلداره که ګلزار دِي
د عاشق تر سترګو خار دِي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بې یارانو کهٔ بهشت وي
و خوشحال وته به زشت وي
چې د سرانو له لوریه راشي
په غه باد مې خاطر وا شي
چې غه باد د ما د غرهٔ وي
بوی د مشکو ورسره وي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ژړا د خط په راتلو

پښتانه ډېره انتظاره
ډېرې میاشتې ډېر نهاره
چه قاصد راوړي خطونه
خوښ وُم د خط بېچُونه
چه هر بیلچ غورځاوه شي
لوُند د سترګو په اوبهٔ شي
په هر حرف چه وُښکې څاڅي
څني نور حرفونه پاسي
الف شین کاندي رِې ځې کا
بې نون کاندي دال رِې کا
هر هر حرف سره تاوُ تاوُ شي
جیم تې کاندي واوُ شي

---

مراد د غه نه ورا ندِ دیو توری کښې محسوسیږي۔

کهٔ ئې لوَلمُ خط لمَدیږی
کهٔ ئې نهٔ لولم دَمُ خیژی
یو ړومال به وُښکو تر کړم
په خبرو زړهٔ لر بر کړم
ځنی لوستی ځهٔ نالوستی
چاله مینځه نه اخستی
چه مې فهم ځهٔ خو نور شی
غم د غیر مې ځهٔ خو خور شی
بیا ړاوُغوارم خطوُنه
ښهٔ ئې پوهٔ شم له مضمُونه
لکه څوک وَ اور وهلی
په اور واړه غورځیدلی
اول اور وریاندې خوږ وی
وے بیا وَریاندې کوږ وی
په ړاتلهٔ د خط خوشحال شم
له مضمونه ئې بدحال شم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په کاغذ يې سرې سکروټې
ښېښې راشي ورې غوټې
هم کې له پېچ و خم
نوې سطر ګکښې سم
هم کې د ږلزالونه
ګکښې نۀ وُ دلدالونه
هم کې د سم سينونه
ګکښې نۀ وُ سم شيونه
باندې نشي او بۀ تلے
لمبې سرې شي په زړۀ بلے
بچپل ځان پروا دار نۀ يم
شۀ خبر ته په کار نۀ يم
نۀ خوشي د حبيبانو
نۀ زوال د رقيبانو
زړۀ به کوم توکی خوشحال شي
لا به غم کښې پائمال شي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څه رونق ښهٔ وی د ګُلو
خوشحالي وِي د بُلبُلو
چه ګلُونه پژمرده شي
عندليب لکه مرده شي
دا دوه توکه مے په ياد دِي
نور همه خبرے باد دِي
يا وصال دَ حَبِيبَانو
يا زوال دَ رقيبانو
څرخ زرکهٔ سره واوړي
هر څه وي په پرَکښه راوړي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ٥ فصل

خپل پردی چه په دُنیا دِي
هغه وی واړه بلا دی
له سرپو تشي تشي
په صحرا ګرځیدی ګشتي
ناست دِي خیر کړی له د دانو
هسی نه له اد میانو

## شکایت د زمانی له خلق

ادم زاد په نوم ادم دی
وله ډیر تر سپیو کم دی
سپی که ستا نه وی د بل وِي
چه ستا وُخوری نور دِ خپل وِي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کهٔ خوښ وي چه ستا وخوری
کهٔ ئ وښنې نور تا نهٔ خوری
کهٔ سړي سره تل ښندهٔ کړے
کهٔ ئ لږ کوټے خوږ زړهٔ کړے
ښهٔ دِ واړه له زړهٔ دور کا
توره واخلی په تا هور کا
اوّل هاڅ توبه له خپله
وروسے توبه له بله
هغه بَد چه لکه خپل کا
هسے بَد کله لا بل کا
سترګے وغړوه ګوره
جهان څکه لور دَ لوره
شاه جهان تړلے چا دے؟
شاه شجاع شړلے چا دے؟
دَ دارا کله چا پریکړه
خیلخانه ئ چا ایرے کړه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مراد بخش دَ حیا په نُوره
جهان ویوست له سروره
دَ دارا دَ خُوئ یاره
حیا کړه اوس خپله ورنداره
د دارا[1] سکه عورته
په ستم کړه فضیحته
اَورنګزیب چې پلار یې بند کړه
بیا یې مشر ورور ورېند بندکړ
یا دا نوره ګُمراهي کا
بیا خو ناست دے پادشاهي کا
چې په ما یې وکړے چاړے
کور مے لاړ په لاړے لاړے
حال مے پټ نه دے سرګند دے
زهٔ په بند خُوږے[2] مے په بند دے

---

۱؎ د سکه دارا عورته (قلمی نسخه)
۲؎ مقصد اشرف خان هجری دے۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ مغلو سره مله شول
دَ خپل کورد بخښۍ غله شول
خان و مان واړه برباد شهٔ
ملک ویران په دا فساد شهٔ
درست ختک په بلا یاد شهٔ
نام ناموس واړه برباد شهٔ
چه ملک[1] ګټلے نام وه
چه یحیٰی[2] ګټلے کام وه
چه خړ تورے د شهباز[3] وے
یا د ما غوټے د باز وے

---

[1] ملک اکوړے ولد ملک درویش عرف چینجو۔ دخوشحال بابا غورنیکه چه په ملک اکو هم مشهور وه۔ ترې ختک اکوړخیل او سیدونکے وه۔ داکبر بادشاه په زمانه کښے ئے لوئے نوم پیدا کړے وه۔ دفانړو خان بولاق ختک دلاسه سره دخپل ځویه چه یوسف خان نومید وه قتل کړے شو۔

[2] د ملک اکوړی مشر ځوئے او دخوشحال بابا نیکه۔

[3] شهباز خان دَ خوشحال بابا پلار۔

یو نامرد[۱] و ناپکار وه
ناهموار وه ناهنجار وه
سره واړه وړ سو ولي
یکباره یې دزد ولي
یو باغ جوړ په ډېر صحبت کا
بل یې کل واړه لت پت کا
یو کور درست د مشکو هټ کا
بل یې درست جوړ چپټ کا
یو بنیاد کا لوړې کوټونه
بل یې وران کا دیوارونه
دریغه دریغه بې هنرو
دریغه دریغه بد ګهرو

---

۱. شاید بهادرخان ته اشاره کوي. چې د خوشحال بابا تره او هغه د قید ولو په سازش کښې شریک وه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځوانان کله واړه سم دی
خوک ښادی کا ځنی غم دی
خوک ویرانے کا وَدا نے
خوک ودانے کا ویرانے
چه[۱] دستار تړی هزار دی
دَ دستار سړی په شمار دی
هُم دَ مړو هُم دَ ژوندیو
ګڼلے پریکړے واړه دیو
هُم ئے ځان په علامت کړ
هُم ئے خلق فضیحت کړ
بیا ئے تښتے هُم په ما کړے
چه وړوستے مے ور ترملا کړے
هُم ئے ما تورے په لاس کړے
هُم ئے ما وَته الماس کړے
ما ور وَښئیل پندُونه
بیا ئے ماته کړل سندُونه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زړهٔ مائل وتا و مرګ ته
ته مشتاق د ما و مرګ ته
زما فکر ستا واړو ته
ته تیار د ما خواړو ته
دا څه رسم څه ائین دے
کوم مذهب دے داڅه دین دے
و ما نړو ته له دے حاله
و یوښتیٔ څو مقاله
کوندے وکا له دے کاره
څو خبرے څو ګفتاره
دَ دُنیا پکښے څهٔ سود وه
کهٔ د دین پکښے مقصود وه
چه ئے و خاست ژنګ په غاړه
ټوله چاړ ئے کړه لتاړه
هیڅ توبه له هیسے ترُونو[۱]
اور ئے یُورے په ځانونو

[۱] خپلو ترونو بهادرخان او فیروزخان ته اشاره ده۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سړو لمبو ته واچوې

مړ هندو غونډ ؤسوې

چه هر ځائے ننداره کړي

پرې خندا سوړے ناره کړي

ورته درست عالم حیران شوے

عبرت پاتو په جهان شوے

سزاوار دَ هر غضب دي

ابوجهل بولهب دي

په شوره کښې چه خوک کړکا

سود ئے نشته خپل ضررکا

چه نیکي شي له ناأهله

دا خیره ده له جهله

چه یاری دِ وي له ماره

ځائے شومه کړه تیاره

چه په اصل بد سرشت دي

نځ پرې مکوه چه زشت دي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ستا محنت به واړه یاد کا
غم به تا سره بُنیاد کا
یو ئې بېلاړ یوه ئې مور وي
حُنی دوئ دړې خلوَر وي
یو دانا شی بل کانا شی
یو بینا بل نابینا شی
یو لائق بل نالائق شی
یو زاهد شی بل فاسق شی
دړې نور وو یو کنعان وه
دَ ثاني آدم دَ ځان وه
چه خالي وي له اثره
پاتو نشي هې ضرره
کهٔ د ځوی دے کهٔ دِ وړور دے
هُنرور د ستړکو نور دے
زنک هې وړک شه کهٔ دِ ځوئې دے
چه احمق سفله لا شے دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي

○

# نکته

دا خبره له اُستاده
په دا ځائې شوه راته ياده
وړې يې دا خلور کسان دي
زيان دَ ځان هُم د جهان دي
يارې نۀ بويه له ديوه
خوارې يه بويه په ديوه
يو هغه چه په نام نۀ وي
و دُنيا وته يې زړۀ وي
بل هغه چه ترَ سِنده وي
عزيز ځائې شرمنده وي
بل هغه چه ډير احمق وي
د بهبُود په کار کښې دق وي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بل هغه چه دروغژن وي
نضیحت پیا انجمن وِي
د ما تره بهادر خان وُه
زیان دَ خان هُم دَ جهان وُه
نهٔ حریص وه نهٔ ډرن وُه
نهٔ احمق نهٔ دروغژن وُه
ما لیدهٔ راته ښکاره وه
خوی ئې وارهٔ ننداره وه
د ما تره د ے زهٔ ئې ستائیم
خود پوهیږم چه زهٔ وائیم
په دروغو کښې ډیر نهٔ وه
په دا نورو کښې خوښ نهٔ وه
بل د عقل پرے تورتم وه
په دروغ کښې ځکه کم وه
دروغ هم دَ نادان نهٔ دِي
چه هوښیار وي دَ هغهٔ دِي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هوښيار واړه دروغ نه کا
خو به قصد ترې کناره کا
هوښيار واړه چارې ږده کا
چه ښه چار وي بيا هغه کا
ږده کول د سحر ښه دي
وې کړه يې حکم نه دي
په ځائې ځائې دروغ روا دي
په ځائې ځائې رښتيا بلا دي
کله دروغ کا کله رښتيا کا
هغه کل واړه ږيبا کا
مذهبونه واړه ږده کړه
چه د خپل مذهب هغه کړه
په هوښيار چه څوک انکار کا
حال د دهٔ غوندې هوښيار کا
چه جوهر لري طوطيان دي
هرچه وائي دُر افشان دي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جوهر نشته د شین کوسی
لکه دے هسے به اوسی

# شکایت

ناظرینو علامت دے
آخرین شهٔ قیامت دے
نهٔ وروری شته نهٔ پیوند شته
نهٔ خویشی نه خویشاوند شته
کهٔ دِ خوړے وِي کهٔ دِ پلار وِي
خو دَ بره لا سه کار وِي
کهٔ علماء دِي کهٔ شیخان دِي
پرِ باور نشته تهکان دِي
په کتاب هوَز وِي شوَندے
د عمَل خونے نے کړے دوندے
عالمان دِي یا شیخان دِي
یا د عَدل بادشاهان دِي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون

اوس دا درے وارہ فریقه
خُدائے مرتد کړله طریقه
کهُ علمان دی قیل وقال شول
مُبتلا په ډیر جنجال شول
شیخان هُم مریدان نسی
هُم وهرنوری ته کسَی
کهُ دُنیا شی پرے تهندوره
لا به واڅ نوره نوره
اول داد له دے بادشاهٔ
چه فارغ دے له دادخواهٔ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# غندنه

## دَ بادشاهٔ اوُ ددهٔ حال

یا خوشحال ختک کافر دے
قاضی کښلے په محضر دے
چه بادشاه پرے نهٔ ګروهیږی
نهٔ مے زړهٔ باندے شرمیږی
یا بادشاه په ځان جهود دے
دَ مومن آزاری سود دے
په دا مینځ کښے داور خُدائے دے
وَرښکاره دَ هر چا زائے دے
بادشاهان چه ستمناک شی
په خلق د تړواک شی
بادشاهان چه عدل پریږدی
جهان ځ په ویران کیږدی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بادشاهان چه بې انصاف شي
خلق خوار په هر اطراف شي
بادشاهان چه بې تميز شي
چه عزيز وي ناعزيز شي
بادشاهان چه بې خبر شي
کار د ملک واړه ابتر شي
بادشاهان چه ناحق ترن شي
اور يې پوړې په لمن شي
دَ بادشاه طاعت د ځان دے
دَده عَدل دَ جهان دے
دَ اوَرنگ عدل بخښلی
خو د عدل کا ختلی
خدائے خبر په دا بادشاه دے
چه گمراه دے ډير گمراه دے
که رښتيا وايم ابليس دے
ډک په مکر په تلبيس دے

سزاوار دے دَ لاحول
نهٔ سوګند لری نهٔ قول
په فریب په مکر طاق دے
د خناسو په اخلاق دے
ظلم ګار دے ستمګار دے
نهٔ په خوے دے نهٔ په پلار دے
اُمراګان ددهٔ ګرګان دی
تعین شوی په جهان دی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

## فصل

## په باب د جهان د ناسازئ

د جهان ناسازے کاندے
درست جهات کا لاندے باندے
په آزار ځنی نیکان دی
راضی مند ځنی بدان دی
چه بدذات چه شریر وی
هم هغه دده وزیر وي
بخیل عقل تمیز نه دے
هسکی د بل په خله دے
یا راغلے په ترل دے
یا راغلے په شړل دے
چه بدذات بد نسب وي
هم هغه ئے مقرّب وي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کهٔ قاضیان دي کهٔ مُفتیان دي
ددهٔ واړه بدذاتان دِي
په خلهٔ شرع شرع نُومړی
دے د شرعے حُکم کوم وُړی؛
پلاړ تړلے بادشاهي کا
شل ناحقه گمراهي کا
د داد خواهو ژړ اهونه
لور په لور اُوجاړ ملکُونه
سکه ورونړه یې قتل کړي
دهٔ یې مال گنجُونه وړی
دَ سکه ورارهٔ عورته
په ستم کړه فضیحته
ژړ ناسازے ژړ فساده
دَم وهه له عدل داده
په دا هومره قباحت
دم وهه له شریعت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په دا هومره رسوائي
دَمْ وهه له پارسائي
الحذر له دے زمانه
الاَمان له دے سُلطانه
دا بادشاه نهٔ دے بلا دے
چه راغلے په دنیا دے
شریعت په مخکښے سپر وُړی
پکښے نغښتے خیل هُنر وُړی
په گُفتار ثانی شفیق دے
په تکرار شقی تحقیق دے
څوک دِ دا گُمان وُنهٔ کا
چه زهٔ خوږ غوندِ یم ځکه
نهٔ لا بند نهٔ په زندان وُم
چه ددهٔ مذمت خوان وُم
سکه دے دَدهٔ عمَل وه
مَا و یَیلے لا اول وه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه ورځ چې دے بادشاه شهٔ
کار به هر لوري تباه شهٔ
ما هاله ژړمه د ځان کړه
اقتضا مے راځۀ دا شان کړه
چه دده له کاره تشی
به غره ځائے ونیوهٔ شی
ځان خدائے ته وو سپارلی
کاروبار پرے ومارلی
نوکری ده که منصب دے
اوس هم دوی لره عجب دے
دا مے فکر دا مے راځۀ وه
خېر کرم حکم خود خدائے وه
سکه خور ئے کور د پلار کړ
د ما کور ئے هسے خوار کړ
ده خو ډیر بے خان و مان کړل
ډیر کوروند ئے ویران کړل

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مکافات شته غم دِ نهٔ کا
دا یُو کورو چې خدائے خهٔ کا

## ظاهر کوُل دَ خپل دردراشتی

کهٔ په عُمر دولت خواه یم
په دا کار کښې بےگناه یم
دَ بادشاه په کور کښې راست وُم
زهٔ راضی په کم و کاست وُم
له اِخلاصه مے خدمت وه
صاف مے زړهٔ وه صاف مے نیّت وه
د نمک په کار کښې زهٔ وُم
چې په سر په هیڅ نهٔ وُم
کهٔ شهباز وُه کهٔ یحیٰی وه
سر ئے اِیښے په رښتیا وه
کهٔ د مړو ژوندو یو حق شته
یا پاداش دَ حق ناحق شته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اُمید وار یم وَ الله ته
د الله وَ لوئے درګاه ته
خُدائے به زر راته ښکاره کا
نا انصاف به اواره[۱] کا
د ما کار به لکه زر شی
تَر اول به لا بهتر شی
په هر خدُ کښے یَو یَوَ فال شته
په هر خدُ کښے یو یو خیال شته
نهٔ لګی شوم هاله لکه وم
یوسفزائے شوم کهٔ ختک وم

○

---

۱ـ د لکونو خاوند ـ لک پتی ـ کلیات ص

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ستاينه

## د يوسفزيو په تعريف کښې

يُوسف زی مير افغان دي
هُم د تُورے هُم د خوان دي
يو وجُود دي سره دواړه
مندنړ لا د هاتی داړه
هم کی واړه يو بنړدے
پاس په سوات ميشته چندنړدے
سزاوار د تاج و تخت دي
چې سر نهٔ لری کم بخت دي
ننګ لری پښتانهٔ واړه
وے ننګ له ديو نه غواړه
کله کله کړهٔ تاراج کړی
بيا چې ورشی پکښې راج کړی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ډېر کارونه ئې افضل دي
يو خو لا پکښې اوّل دي
يو سُني دے په مذهب کښې
بل ساده دے په مشرب کښې
عالمانْ پکښې دينداران دي
په لمنځونو استوار دي
که په کور کښې ئې نفاق وي
بل ته بيا په اتّفاق وي
په دا خوئ په دا خصلت کښې
کامراني کا په عزّت کښې
ورځ په ورځ ئې کار ښۀ کيږي
هم لوئيږي هم ډېريږي

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# د حق تعالیٰ د حکم د ډار ز چه کار

# ئې د حکمت نه خالي نۀ دے

ذره نۀ خوزي له ځايه
څو فرمان نۀ وي له خدايه
چه د خدائے امر فرمان شي
يو غربل وته روان شي
چه يو بَد وائي ته ښه ئې
هغه اور شه ته اوبه ئې
چه اوبه شي به اور تيلے
هورته مړه شي لمبے بلے
په سل حُله که څوک کرم شي
بيا دِ هُم باندے کرم شي
که روښنے وي که اوکره وي
د ياړانو د سره وي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا دوه توکه رياست دے
سخاوت دے شجاعت دے
دوری نشته بیله حیله
یا سپین کی یا کرکیله
چه به نرد یا به شطرنج کا
کهٔ به شرط وی یا به رنځ کا
بیهوده نهٔ ظرافت دے
بس دا هومره اشارت دے

# فصل

چه خیل ستر بې حیا کړان وي
بل به چیرے پرے آسان وي
هر هغه شئ چه دِ ته ده شی
دیر خو غشی غشی غشی
کهٔ د خوړے کره دِ تلهٔ وي
بے چړے نور دِ ننهٔ وي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چې نه وي درسته پوره
ستيره تو ره مشهو ره
چې به پاس په آس سوريږي
کنږه خره نه به مور خيږي
نه کورم د نيزه بازو
نه يو سور د تير اندازو
په وسله مينه له اصله
وسله تل د ځانه وصله
که خيل تل د بله خپل وي
چې پريباسي حد د بل وي
چې تبار سره ويزار شي
درست تيار وبله خوار شي
د نيستئ سره نفاق وي
د هستئ اتفاق وي
چه خيل کور سره يکدل وي
هر مراد به يې حاصل وي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چې په کور کښې خللی وي

ږر د کای . . . . . . . . .

یو ورک ښهٔ کهٔ ډیر ورک ښهٔ دي

یو سپک ښهٔ کهٔ ډیر سپک ښهٔ دي

کهٔ یو روز حلاله وینه

د سردار څوارده مهینه

مهٔ آغوندئ مهٔ ئې خوانړي

د سردار حکم خو وانړی

هم په دا مے اختتام دے

په همهٔ وُ مے سلام دے

کال د غم لاړ میاشت اختروه

دا نامه چې نظم ږر وه

---

تمّت تمام شُد

کتاب فراق نامه دَ خانِ کلان خوشحال بیگ نورالله مرقدهٗ

و مضجعه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# کتابیات


(۱) تاریخ مرصع — مؤلفہ افضل خان ختک — مرتبہ کامل مومند

(۲) کلیات خوشحال خان ختک — مرتبہ دوست محمد خان کامل مومند

(۳) خوشحال خان ختک (اردو) — مؤلفہ 〃 〃 〃 〃

(۴) فضل نامہ — پیشکش د محمّد عبد الشکور

(۵) دستار نامہ — (۱) پیشکش د محمد عبد الشکور۔ مطبوعہ ۱۹۵۲ء
(۲) کابل چاپ - ۱۹۶۶ء

(۶) سوات نامہ — زما ذاتی قلمی نسخہ

(۷) گلشن روہ — مرتبہ ایچ۔جی۔ راورتی مطبوعہ ۱۷۶۶ء

(۸) کلید افغانی — مرتبہ پادری تی۔پی۔ هیوز
مطبوعہ ۱۸۷۲


Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)